مورچل

دیارلسم کال، شپږمه، پرلپسې ۱۳۰مه کڼه،
شوال المکرم ۱۴۴۰هـ ق، جون ۲۰۱۹م

رسنۍ دې ولې نظامي هدف شي؟!

ولې د اسلامي او ملي ارزښتونو سپکاوی کیږي؟

آیا چنین است آزادی بیان؟

د کابل برید،

د ولسي عام وژنې قصاص...!!

- غزنی در آتش جنگ می سوزد!
- اشرف غني په کوم مخ استقلال لمانځي؟
- محمد مرسي په کوم جرم ووژل شو؟
- درې خاطرې!
- د سولې روانې هڅې او د خلیل‌زاد تضادات

د دفاع وزارت په لوجیستک ریاست برید

دکابل د رژیم پوځي او امنیتي وړتیا وننګوله!!

مورچل

علمي، سياسي او جهادي مياشتنۍ خپرونه

ديارلسم کال شپږمه، پرلپسې ۱۳۰مه کڼه،
شوال المکرم ۱۴۴۰هـ ق جون ۲۰۱۹م

لړليک

کڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله	۱
۲	د کابل برید، دولسي عام وژنې قصاص !	۲
۳	اشرف غني په کوم استقلال لمانځي؟	۴
۴	د سولې روانې هڅې او د خليلزاد تضادات	۶
۵	درې خاطرې؛ طالبان ځرنګه خلک دي؟	۹
۶	ولې د اسلامي او ملي ارزښتونو سپکاوی کيږي؟	۱۳
۷	داعش د موصل له جوماته، په چورلکو کې تر انتقاله	۱۵
۸	آیا چنین است آزادی بیان؟	۱۸
۹	د دفاع وزارت په لوجستيک رياست برید	۲۱
۱۰	غزنی در آتش جنگ می سوزد	۲۴
۱۱	محمد مرسي په کوم جرم ووژل شو!	۲۶
۱۲	ممنوع من الصرف!	۳۲
۱۳	شهید مولوي عطاء الله حجت رحمه الله ژوند ته کتنه!	۳۴
۱۴	دا خو مورچل یو چې لا هم ورته بشپړ کابل اداره وایو	۳۹
۱۵	د اسلام غزوات او سرایا	۴۱
۱۶	جنګي جنایتونه (جون)	۴۶
۱۷	د مورچل وړمې	۵۰
۱۸	د ۲۰۱۹م کال د جون دمیاشتې جنګي جنایتونه)	۵۲

د امتیاز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

صلاح الدین "صارم"

کتـــنپلاوی

ایـــوب صـــافی | حکـــمت
معیـن احـــمد | حافـظ سعـید
حســـن زوی | موسی فرهـــاد

تخنیکي چارې

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: morchalmorchal@yahoo.com

رسنۍ دې ولې نظامي هدف شي؟!

لکه څنګه چې پرافغانستان داشغال په پیل کې ناټو او امریکا دجګړې لومړنی ضرورت دتبلیغاتي وسایلو نصب او فعالول وګڼل له هماغه وخته په هیواد کې رامنځته شوې رسنۍ له دغه اغېز څخه پاته نه دي اوله هماغې ورځې ډېرې رسنۍ په طرف کې واقع دي او دبیان آزادي یې تش شعار دی.

وروسته له هغه چې ناټو او امریکا له دغو مطبوعاتو خپل کار واخیست او پردوی یې د ډالرو تمویل ودراوه نو دبیان له آزادۍ نه په استفاده! ځینو رسنیو طرف پرېښود او یونیم غړې یې اوچت شو، خو چې هیواد اشغال اوحکومت یې غلام وي څرنګه به کېدای شي چې مطبوعات یې خپلواک پاته اودبیان ازادي ته وفاداره شي!؟ او بیا چې داشغال په سیوري کې جوړ اساسي قانون ته متعهد هم وي .

مونږ وینو چې ډېرې مطبوعات او رسنیز چینلونه نه یواځې داچې دحکومت او اشغالګرو په ګټه مطبوعاتي میلان لري بلکې په ډېره سپین سترګۍ له مجاهدینو سره په قصدي ډول په جګړه کې ځان ښکېلوي او دټولو مطبوعاتي نورمونو خلاف له مجاهدینو سره علني دښمني پالي اواستخباراتي کړیو ته له دغه سپېځلي ډګره نامقدس خدمت ترسره کوي .

اسلامي امارت دمطبوعاتو له سپېځلي مفهوم نه په ننګه ځان ته داحق ورکوي هغه رسنۍ چې دمطبوعاتي مسیر په ځای یواځې اویواځې له مجاهدینوسره دښمني پالل اوداشغال تداوم ته خدمت یې کاروي هیڅکله مطبوعاتي دستګاه ونه بولي اودخپلواکۍ په ترلاسه کولو کې یې مجبوراً نظامي هدف ګرځوي .

په دې اړه داسلامي امارت دنظامي کمیسیون له لوري د سرطان دمیاشتې په (۲) نېټه اعلامیه خپره شوې اوپکې ویل شوي : " د هیواد په مرکز کابل او ولایاتو کې له ځینو رسنیو څخه د تجارتي اعلانونو په نامه یو ډول اعلانونه اوریدل کېږي چې په هغو کې په روان جهاد، مجاهدینو او طالبانو پسې بد رد ویل کېږي، خلک یې په ضد را پاروي کېږي، د کابل اداري د امنیتي ادارو ځانګړې شمېرې نشروي او هڅه کېږي چې د اشغال په ضد د روان جهاد په مخنیوي کې له همدې رسنیو څخه استخباراتي استفاده وشي، د عامو افغانانو ذهنیت تخریب شي او مخامخ دښمن ته د جاسوسۍ فعالیت تر سره شي."

اعلامیه زیاتوي :" د اسلامي امارت د نظامي چارو کمیسیون ټولو هغو تلویزیونونو، رادیوګانو او نورو نشراتي ادارو ته جدا خبرداری ورکوي چې له خپل دغه دښمنانه عمل څخه هرڅه ژر لاس په سر شي."

رسنۍ او رسنیز فعالیت چې د ولس د ارادو تمثیل دی او په رښتیني ډول دهغوی غړې بدرګه کول دي هیڅکله او هیڅوک نه شي تهدیدلی، خو کله چې ځینې غرضي کړۍ له همدغه پاک نومه په استفاده ناپاک اهداف په مخه کړي ؛ بیا نو دولس دارادو د ممثلینو مسؤلیت دی چې اقدام وکړي او دتخریب مخه یې ونیسي .

د کابل برید،
د ولسي عام وژنې قصاص...!!

موسی فرهاد

څه موده وړاندې د کابل په ترټولو یوه خوندي سیمه، شهرنو کې د (کاونټرپارټ) په نوم د بهرنیو ځواکونو یو مهم مرکز فدایي مجاهدینو په نښه کړ، او تر هغه یوه ورځ وړاندې یې د بغلان امنیه قومندانۍ په نښه کړه، او بیا ورپسې طالبانو په یوه رسمي لیکنه کې ژمنه وکړه چې د کابل دا برید به وروستی برید نه وي، په نژدې راتلونکي کې به د دوی په اصطلاح ګډ دښمن تر دې هم په لوړه کچه د بریدونو هدف وګرځي.

په ننې برید سره طالبانو خپله هغه ژمنه ثابته کړه او دښمن ته یې وښودله چې د ولسي قتل عام قصاص به هرو مرو له دوی څخه اخیستل کیږي.

نن سهار د جولای پر لومړۍ نیټه د کابل د ۱۶مي حوزې اړوند، پل محمودخان سیمه کې د طالبانو د فدایی قطعې ځوانانو وکړای شول چې د نفوذي همکارانو په مرسته د یو کامیاب تکتیک په مټ د دفاع وزارت د لوژیستیک (اکمالاتو) او تخنیک (انجینرنګ) مرکز ته ځانونه ورسوي، او هلته له دښمن څخه د هغو زرګونو بې ګناه او بې دفاع هیوادوالو غچ واخلي چې د امریکایي یرغلګرو او د دوی د کورنیو ملاتړو له لاسه شپه او ورځ په خپلو کورونو او جونګړو کې په وحشیانه ډول په شهادت رسیږي او یا تعذیبیږي.

په دغه برید کې په لسګونو د دفاع وزارت منسوبینو خپل ژوند له لاسه ورکړی، که څه هم چارواکو له رسنیو څخه هرڅه پټ کړل، خبریالانو ته یې اجازه ورنکړه چې هغې ساحې ته ورنژدې شي. د پیښې ساحه له میډیا څخه پټول؛ پخپله د دې ګواهي ورکوي چې دلته رښتیا هم درونده زیان اوښتی ، او حکومت یې د پټولو هڅه کوي، که رسوا شي، هم به د حکومت د کمزورۍ لمن پرشا ور واوړي او هم به یې مورال بایللي عسکر نور هم روحیه له لاسه ورکړي.

خو افغانان اوس د دغه ډول ماجراوو په ټول سر او بر ډېر ښه پوهیږي، څه چې مجاهدینو په خپله رسمي خبرپاڼه کې ذکر کړي؛ هغه واقعیت دی چې دښمن ته یې په ننې برید کې بوږنوونکی زیان اوښتی.

په داسي حال کې چې هيڅ کوم ملکي وګړی مستقيماً د برید په نتيجه کې زيانمن شوی نه دی، البته د ښيښو د ماتيدلو له امله ممکن خوا وشا څه کسان په سطحي ډول زخميان شوي وي چې دا هم له شک پرته د ډېر افسوس وړ ده.

مګر د برید په ساحه کې د برید له امله څوک ملکي وګړی ځکه نه دی په نښه شوی چې دا ډول سيمي لا له وړاندي چارواکو د عامو خلکو پرمخ بندي کړي وي.

د ماشومانو او ملکي وګړو د تلفاتو خبره خو همدا نن د پوهنې وزارت په يوه رسمي اعلاميه کې په مطلق ډول رد شوه. چې په پروني برید کې د ښوونځي هيڅ ماشوم نه دی وژل شوی، هغه څو ماشومان چې د ښيښو له امله په سطحي توګه زخميان شوي؛ هغوی ټول جوړ دي، يو هم د تشويش وړ خوږ نه دی. د پوهنې وزارت په خپله اعلاميه کې د ځينو رسنيو او سوشل ميډيا هغه تصويرونه دروغ بللي چې کښته پورته يې کوي او د نورو هيوادونو ماشومان د پرونۍ پيښې قربانيان ګڼي.

په هرصورت، د طالبانو د دغه خونړي تکتيکي برید هدف د رژيم د هغه لوژيستيکي او تخنيکي مرکز له منځه وړل و؛ له کومه ځايه چې به حکومتي ځواکونه هميشه باريدل او د هيواد په لرو او بر کې يې د طالب په نوم، بې دفاع مظلوم ولس په قصدي ډول په نښه کاوه.

بل زه فکر کوم چې د طالبانو له دې برید نه هدف دا و چې خپل دښمن ته يو پيغام ورکړي، چې دښمن يې باید نور په ځان پوه شي چې د زور، وحشت، بمبارد او ولس وژني له لارې نشئ کولای چې بريا ترلاسه کړي.

اوس چې د دښمن عمليات طبعاً ټول ولس ته څرګند دي چې تنها ړانده بمونه اورول دي؛ نور که هدف ولس وي او که مجاهد، دوی يې توپير نه کوي ځکه چې يرغلګر او کورني ملګري يې اوس په دې ښه پوهـ دي چې د افغانستان په جغرافيه کې يو ولسيـ فرد هم دوست نلري.

دا چې ولس په ټولیز ډول له مجاهدينو سره په وسلوال جهاد کې عملاً شريک دی کنه ؛ دا بيله خبره ده؛ خو د يرغلګرو او کورنيو متحدينو يې په هر صورت مخالف دی، نو ځکه دښمن هم پرته له دې چې توپير يې وکړي؛ له لوړې فضا نه يې له يوه مخه په ړندو بمونو ولي، او يا يې په نيمه شپه کورونو ته ور لويږي، د ختو ګټو کورونه په بمونو ورته الوزوي، مال او متاع ځيني لوټ کوي، د ښځو، ماشومانو، ځوانانو او سپين ږيرو، نه په مرګ صرفه کوي او نه يې په تعذيب.

د کابل رژيم هوښياري به دا وي چې نور نو د بهرنيانو لپاره د افغان ولس له ځورولو لاس واخلي، د ځمکنيو حقايقو په رڼا کې پريکړه وکړي چې په ظلم او وحشت کې هيڅ هم نشئ ترلاسه کولای پرته له دې چې خپله ګودااګي ځيره د راتلونکو نسلونو او تاريخ په وړاندي نوره هم بدرنګه او وحشي وځلوي، پکار ده چې نور نو له بشر ضد جناياتو نه لاس پرسر شي، کنه نو تر دې به هم بدتري ورځي ورباندي راشي.

پای ....

اشرف غني په کوم مخ استقلال لمانځي؟

حبیب مجاهد

له اوس څخه سل کاله پخوا د ۱۲۹۸ هجري لمریز کال د اسد په ۲۸ مه نیټه انګریزانو له نیمې پیړۍ پټې او ښکاره اشغال وروسته د افغانستان استقلال په رسمیت وپیژاند او زمور ملت د خپلواکۍ یوه بله مبارزه تر منزله ورسوله.

سږ کال د اسد په اته ویشتمه د خپلواکۍ اخیستلو سل کاله پوره کیږي چې په همدې مناسبت سر له اوسه د افغانستان خپلواکي غوښتونکي ملت د دې ورځې لمانځلو ته په ترتیباتو پیل کړی دی. په داسې حال کې چې زمور هیواد یو ځل بیا تر بهرني اشغال لاندې راغلی او ملت مو د خپلواکۍ ګټلو او کفر شړلو په یوه بله ویاړمنه مبارزه بوخت دی، د هیواد د استقلال سلمه کلیزه یو ښه فرصت دی چې نړۍ ته خپل حریت غوښتونکی تاریخي پس منظر روښانه او خپله برحقه داعیه تشریح کړو.

خو په دې لړ کې یوه عجیبه او د خندا وړ پیښه دا ده چې د مجاهد اولس او د خپلواکۍ د لارې د غازیانو په شان اوس د کابل ګوډاګي رژیم هم اراده کړې، تر څو د خپلواکۍ سلمه کلیزه ولمانځي. څو ورځې وړاندې د ګوډاګي اداري مشر اشرف غني یو فرمان صادر کړ چې له مخې به یې د څو میلیونه امریکایي ډالرو په مصرف سره له انګریزه د اخیستې خپلواکۍ سلم جشن لمانځل کیږي.

مور نه پوهیږو د ارګ واکمن (اشرف غني او عبدالله) په کوم مخ دا جرأت کوي چې له انګریزانو اخیستل شوی استقلال لمانځي؟ په داسې حال کې چې دوی عملا د هیواد استقلال خرڅ کړی دی، د واکمنۍ لومړنۍ کارنامه یې دا ده چې د واک اخیستلو په دوهمه ورځ یې له امریکایانو سره د افغانستان د خرڅلاو په قرار داد لاسلیک وکړ. د ارګ په څوکۍ انتصاب یې د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر جان کیري لخوا شوی دی. همدا اوس د امریکا سفیر په افغانستان کې د مطلق العنان وایسرای نقش تر سره کوي. ګوډاګي رژیم ته حدود او پالیسۍ ټاکي، د ټاکنو پروسه کنترولوي او د جګړې

په هلمند کې د برطانوي ځواکونو پوځي اډه

او سولې د پرمخ بیولو واک او اختیار یې په لاس کې دی.

دې حقائقو ته په پام سره اشرف غني او ډله ټپله یې کټ مټ داسې مثال لري لکه شاشجاع چې د انګریزانو په شتون کې درلود. هغه مهال هم واک او اختیار له انګریز استازي مکناټن سره و. افغان اولس د انګریزانو سره په جهاد بوخت و او شاشجاع د خپل ملت د ارادې خلاف د انګریز اشغالګرو اړخ نیولی و، تر دې چې د هغوی په ملګرتیا کې د افغان غازیانو په لاس ووژل شو.

د خندا وړ خبره خو دا ده چې اشرف غني د غلامۍ د حق الزحمې په هغو ډالرو د استقلال جشن لمانځي چې د امریکایي اشغالګرو لخوا ورکړل شوي دي. همدا اوس د نومورې د ادارې ټوله بودیجه د امریکایانو لخوا تامینیږي. په داسې حال کې چې د هیواد فضا امریکایي څرخکو او الوتکو په سر اخیستې، هره ورځ په بمبارونو او ډرون بریدونو کې د ګڼ شمیر ملکي وګړو د مرګ ژوبلې خبرونه ورکول کیږي، د ارګ واکمن په دې ډول حقائقو سترګې پټوي او د ملت د تیر ایستلو په هدف د خپلواکۍ تمثیل کوي او د استقلال د سلمې کلیزې لمانځلو ته تیاری نیسي.

مورِ وایو چې د استقلال سلمه کلیزه لمانځل یو ملي مکلفیت دی. خو دا جشن باید هغه څوک ولمانځي چې په واقعي معنی خپلواک وي، په خپلواکۍ باور ولري. د استقلال لپاره یې قربانۍ ورکړې وي او د خپلو ویاړمنو اجدادو تاریخ یې ژوندۍ ساتلی وي. د افغانستان عام ولس، د اسلامي امارت مجاهدین او د ټولنې عام مستقل اقشار چې د دې هیواد واقعي بچیان او د خپلو نیکونو د ویاړمن تاریخ وارثین بلل کیږي، دا حق لري چې له انګریزانو د اخیستل شوي استقلال سلمه کلیزه تجلیل کړي. د خپلو مجاهدو اسلافو د کارنامو او فداکاریو قدرداني وکړي او د هغوی د ویاړمنې تګلارې په رڼا کې خپل راتلونکی وټاکي.

د سولې روانې هڅې او د خلیل زاد تضادات

حسن مومند

ټولـــو افغانـــانو، دنـــړۍ مســـلمانانو او حتـــی دنـــړۍ نـــا مسـلمانو ولسـونو تـه هـم اوس دا خـبره ښـه روښـانه شـویده چـې دامریکـا او نـورو اشـغالګرو پرضـد دافغانـانو روانـه مبـارزه دمـادي اهـدافولپاره نـده بلکـې هـدف یـې دخپل دین ،ملت ،عـزت اوخـاورې نـه دفـاع اودبهـرني ناپاکـه اشـغال پای ته رسول دي .

دا اهـداف کـه پـه مشـروعې اسانې لارې ترلاسه کېدای شي نـو افغانان څه لیوني ندي چې دځان لپاره به سخته لار انتخابوي .

په مادي لحاظ دخپل ځان نه د سترو طاقتو امریکا او اتحادیـانو سره جنګېدل هـدف تـه درسـېدلو لپاره ډېره سخته لار وه خوچې بلـه اسانه لار نـه وه نـو انتخـاب یـې د افغانانو مجبوریت و .

اوس چې دهمـدې سپېځلي ۱۸ کلـن اوږد جهـاد پـه برکـت امریکـا او اتحادیـانو یـې شکسـت خـوړلی او لـه خپـل لـورې یـې د افغانسـتان اسـلامي امـارت تـه د مذاکراتو دعوت ورکړ نـو اسـلامي امارت سره لـه دې چې پـه جنـګ کې برلاسی دی اوپدې هم پوه دی چـې نـور دښـمن مـورال بـایللی اودجنـګ تـوان یـې لـه لاسـه ورکړیـدی خـوچې دجنـګ پـه ودرېـدو کـې یـې دملـت هرارخیـز خیر لیدلونو له اسانې لارې اهدافو ته درسېدلو پـه هیلـه یـې دامریکـا غوښتنې ته مثبت ځواب وویلـو او دتېرو څومیاشـتو راهیسـې د قطـر په پلازمېنې دوحـه کـې د اسـلامي امارت سیاسي دفـتر دامریکـا سره په مـذاکراتو بوخـت دی ؛ تراوسـه دجـــانبینو تـــرمنځ ٦ ناســـتې رامنځته شوې چې هره وروسـتۍ ناسـته بـه دمخکنـۍ پـه نسـبت مهمـه او د جـانبینو لپـاره هیلـه ښونکې وه.

ښکاره ده میـډیا اونړۍ هـم خبرلـري چـې پـه تیـرو شـپږو پراوونـوکې دهرپـراو وروسـته د اسلامي امارت محترم ویاند ذبیح الله مجاهـد داسلامي امـارت پـه رسمي

پاڼو اوهم دنړیوالورسـنیوسره په پـه مرکـوکې داسـپیناوی کـړی چـې دامریکـا او ادافغانسـتان داســلامي مــارت تــرمنځ روان مـذاکرات یـواځې پـه دوه مهمـو خبرو (لـه افغانسـتان نـه دخـارجي

قواوو په وتو اودافغانستان خاورې نه امریکاته دنه تهدید په تضمین) پورې محدودې وې اوهرځل یې شه په واضحو ټکو ویلي چې څو امریکا دخپلو قواوو دویستو په اړه ور سره کومې حتمي پرېکړې ته ونه رسي ترهغې وړاندې د اوربند او بین الافغاني مذاکراتوپه شمول نوروموضوعاتو ته دننوتو هوډ نلري؛ دبهرنو قواوو دوتلوخبره دامارت لپاره اصل خبره ده او نورټول موضوعات ورته ثانوي ارزښت لري ځکه چې دافغانانو دټولو ناخوالو اصل عامل بهرنی اشغال اودبهرنوقواوو پوځي شتون دی نوچې دهغه دپای ته رسېدو په هکله حتمي خبره نه وي رامنځته شوې نورو موضوعاتو باندې به بحث له وخت نه وړاندې خبره اولویه خطاء وې.

دامریکا دمذاکراتي ټیم مشر زلمي خلیل زاد هم څوځله په دې خبرې اعتراف کړی چې دطالبانو دمرکچي پلاوي سره یې بحث په دوه مهمو خبرو(له افغانستانه دخارجي قواوو په وتو او د افغانستان خاورې نه امریکاته دنه تهدید په تضمین) پورې محدود و.

نوهمدې حقیقت ته په پام سره څو ورځې دمخه قطرکې دافغانستان اسلامي امارت دسیاسي دفتر ویاند ښاغلي سهیل شاهین دامریکا اوامارت ترمنځ دسولې مذاکراتو دتېرو شپږو پراونوودمحصول اولاسته راوړنې په باره کې پخپل ټویټر ولیکل: امریکا له افغانستانه دخپلو ټولو عسکرو په ویستو اوافغانستان کې په آینده نه لاسوهنې قانع شوې .

دمحترم سهیل شاهین ددې ټویټ په مقابل کې دامریکا دمذاکراتي ټیم مشرزلمي خلیل زاد د ورخطایې نه په ډک اوجذباتي کیفیت عکس العمل ښکاره کړ اوپخپل ټویټرپې ولیکل:امریکا له افغانستان نه دخپلو عسکرو دویستو په هکله دتوافق په لټه کې نه؛ بلکې دیو داسې توافق په لټه کې ده چې دبهرنیو عسکرو وتل، اوربند اعلانول، د افغانستان خاورې نه امریکاته دنه تهدید تضمین اوبین الافغاني مذکرات دهغې اساسي ټکي وې.

خلیل زاد دا نوې څرګندونې په داسې وخت کې کړي چې په دوحه کې د امارت دسیاسي دفتر مرکچي پلاوی او دامریکا استازي یوبل سره دمخامخ خبرو اترو په لړکې داووم خوراترټولومهم پړاو ناستې ته چمتوالي نیسي.

کومو خلکو چې دمذاکراتوپه روان بهیرکې د خلیل زاد څرګندونې اوټویټونه تعقیب کړی وي هغوئ ټول پدې پوهېږي چې دده پورته ټویټ دتیرو شپږو پړاوونو په اړه دنومورې د پخوانیو ټویټونو سره د تضادترڅنګ د هغه دتازه ټویټ سره هم په ټکرکې دی، کوم چې یې داووم پړاو خبرو لپاره دامریکا څخه دروانیدو په مهال کړی و؛ هغه په خپل دې تازه ټویټ کې ویلي ووچې داځل به طالبانو سره دبهرنیو ځواکونو وتل اوله افغانستانه امریکاته دنه تهدید تضمین نهائي کوي.

دامریکا ولسمشرټرمپ دافغانستان له جګړې څخه سرټکوي؛په افغانستان کې دامریکا

په سترو جنګي لګښتونو خفه دی؛ دتېرو ۱۸کلونو راهیسې دامریکا حضور عبث ګڼي؛ د جګړې ټینشن ختمولو او د امریکایې ځواکونو د وتلو په هکله ځان جدي ښکاره کوي .

اوپه ښکاره داسې ښکاري چې هغه په امریکا کې دولسمشریزو ټاکنو وړاندې له افغانستانه دخپلو عسکرو د ویستلو په اړه یوې پرېکړې ته ځان رسول غواړي.

نود خلیل زاد نوې ځرګندونې د امریکا دولسمشر ټرمپ ددریځ سره هم په تضاد اوټکر کې دې.

دخلیل زاد داخودسرانه ټویټونه او نامسؤلانه ځرګندونې چې دسولې روان بهیر سبوتاژ کوي او د دواړو لوریو ترمنځ بې باورې اوبې اعتمادې زیاتوي پدې حساس وخت کې ډېرې دتعجب وړ دي.

دسولې له لارې داشغال ختمول اوجنګ پای ته رسول دافغانانو ترځنګ دامریکایې ولس اشد ضرورت او دټولې سیمې اونړۍ دثبات په برخه کې یو ښه ګام دی نوداسې یوښه فرصت په اړه خلیل زاد دخودسرانه ځرګندونو نه منع اوخپلې خطا ته متوجه کول دامریکا

دحکومت اخلاقي او دیپلوماتیک مسؤلیت دی چې باید پروخت یې ادا کړی وای .

خودا چې په تېرو ۱۸ کلونوکې ټول افغان ملت او خصوصاً اسلامي امارت ته دامریکا دنفاق اوتضاداتونه ډکه څېره ښه روښانه شویده نودخلیل زاد اوسني تضادات ورته زیات دتعجب وړ ندي .

اسلامي امارت دامریکا ټولو مکرونو اوفریبونوته متوجې دی او په ډېراحتیاط ورسره مخ په وړاندې ځي نوځکه مذاکراتو ډېر پراوونه ووهل دیوپسې بل ته وغزېدل ؛ اوس چې دوه ورځې پس د اووم پراو مذاکرات پیل کېدونکي دي او په اړه یې ویل کېږي چې دابه نهایې وي نوحتمي نده چې رښتیا به هم نهایې شي ؛ داسلامي امارت زیرک اوهوښیار مذاکراتي پلاوی به په ډېر احتیاط قدمونه پورته کوي ؛دښه تدبیرنه به کار اخلي اود ولس دهیلوسره سم به دعالي اهدافو دحصول لپاره ددې ډګر دفتحه کولوپوره هڅې کوي ؛ دملت دعاګانې ورسره دي الله تعالی به یې دنظامي ډګر په څېر د دیپلوماسۍ پدې ډګر کې هم کامیاب اودهیلوسره سم به هغه ټول اهداف ترلاسه شي چې ورته افغان ولس خورا ستړې قربانۍ ورکړې .

دري خاطري

طالبان څرنګه خلک دي؟

نن سبا دا پوښتنه ډيره په ژبو ګرځي چې طالبان څرنګه خلک دي؟ د دې لپاره چې د طالبانو اصلي ماهيت له عامه اذهانو ورک کړای شي او د دې خدايپاله ډلې په اړه ذهنيتونه خراب کړای شي، په وطني او نړيواله کچه سخت تبليغات روان دي. د طالبانو پر ضد نه يوازې په ورځني ډول راډيوګانې، تيلويزيونونه، ويب پاڼې، اخبارونه او نورې رسنۍ زهرجن تبليغات کوي بلکې د طالب د نوراني څيرې د تشويه په مقصد د دښمن لخوا مسلسل کتابونه ليکل کيږي، فلمونه او سريالونه خپريږي او د بې دينۍ په دې عصر کې منظمه هڅه روانه ده تر څو د طالبانو دين پالونکې جهادي ډله په قسماقسم غلطو افواهاتو سره بدنامه کړي.

د يو چا د ماهيت او څرنګوالي معلومولو لپاره بيلابيل معيارونه شته خو د يوه شخص يا ډلې د ارزولو لپاره تر ټولو ښه معيار دا دی چې له الله تعالی سره يې معامله څرنګه ده؟ تر کومه حده خپل رب ته تسليم او د الله تعالی له دين سره وفا لري؟؟ په دنيا کې تر ټولو برحق، معزز، مکرم او د لوړې مرتبې څښتن هغه څوک دی چې له الله تعالی سره اخلاص لري، په واقعي معنی يې د

بندګۍ سر ورته ټيټ او د الله تعالی د رضا لپاره هر قسم قربانۍ، ايثار او فداکارۍ ته تيار وي.

زه دغه مقدمه نوره نه اوږدم، راځم مطلب ته، دلته د نمونې په ډول د دريو تنو طالب مشرانو درې مستند واقعات درسره شريکوم او بيا قضاوت تاسو ته پرېږدم تر څو د طالبانو د څرنګوالي په اړه عنوان شوې پوښتنه ځواب کړئ.

د فارياب ولايت د المار ولسوالۍ اوسيدونکی قاري صلاح الدين صاحب د طالبانو يو له مهمو او مطرحو مشر انو څخه دی. نوموړی څو کاله وړاندې د دښمن لخوا ونيول شو او د کابل د بيلابيلو استخباراتي محابسو تر څنګ يې د باګرام په تور زندان کې ډير وخت تير کړ. د تير کوچني اختر په دوهمه نيټه نوموړی د دښمن له توقيف ځای څخه راوتښتيد او الله تعالی نجات ورکړ. څو ورځې وړاندې مو د څو نورو مطبوعاتي ملګرو سره يو ځای ورسره ليدنه درلوده. کله مو چې د دښمن له توقيف خانې د فرار د دې خطرناک اقدام په اړه ترې وپوښتل نو يې وويل: د زندان په وخت دښمن ماته ډير وړاندیزونه وکړل، د پيسو، موټرو، مادي امکاناتو، منصب او نور مختلف پيشنهادونه. . . حتی دا يي راته وويل چې په کوم خارجي ملک کې به د اوسيدو ترتيب درته برابر کړو،شپږ زره ډالر معاش به درکوو، اولادونه به دې په خارج کې هوسا ژوند او لوړې زده کړي وکړي. خو د دوی ټول دغه وړاندیزونه ما رد کړل، وروسته يې په کابل ښار کې د اوسيدو ځای راته مهيا کړ، تر څو په دې آسوده ژوند سره مې له جهادي فکر څخه بيګانه کړي. هلته ما ته د ژوند ټول سهولتونه برابر و. خو زه په دې فکر وم چې الله تعالی پر ما ډير احسانات کړي دي. ديني علم، په خپله سيمه کې مشري او د مجاهدينو قيادت، ښه ژوند او اولادونه، د الله تعالی په لاره کې جهاد او داسې نور انعامات او احسانات. خو زما يو ارمان لا هم پاته و او هغه د الله تعالی په لاره کې شهادت دی. په دې ډول ما د دښمن لخوا راکړل شوی کور او ټول سهولتونه پريښودل، د اختر په دوهمه ورځ چې طبعا عمومي رخصتي وي او د دښمن لخوا ډير څار نه وي، زه د کابل په شهر نو کې د راکړل شوي کور(توقيف ځای) له ديوال څخه راواوښتم او د لوی خطر په منلو مې يو ځل بيا د مجاهدينو له صف سره ځان ملګری کړ، تر څو د الله تعالی د رضا لپاره خپل جهاد ته دوام ورکړم.

د قاري صلاح الدين له ملاقات وروسته مو څو نور مجاهدين وليدل تر څو دهرات ولايت د يوه مخکښ مجاهد شهيد مولوي عبدالمنان حنفي صاحب د ژوندليک لپاره ترې معلومات او خاطرې ترلاسه کړو. مولوي عبدالمنان حنفي صاحب يو سپين ږيری عالم او مجاهد و. د اسلامي امارت د

واکمنۍ په وخت د سرپل، بادغیس او سمنګان والي پاته شوی و او په اوس وخت کې د ملکي تلفاتو د مخنیوي او سمع شکایاتو دکمیسیون مرستیال و. د نوموړي یوه ملګري د عیني شاهد په توګه د ده د شهادت کیسه داسې وکړه.

مولوي صاحب خپل کار(د خلکو د شکایاتو اوریدلو) ته خورا متوجه و، که به هر څومره امنیتي مشکلات او خطرات و، خو ده خپل کار نه ځنډاوه. ویل به یې چې زموږ کار همدا دی چې له خلکو سره وویني، شکایات یې واورو او مشکلات یې حل کړو، که موږ په دوی ټیلفون بند کړو یا ځان ترې پټ کړو، نو دا خلک به چیرې ځي او څوک به یې شکایتونه اوري. د سمع شکایاتو د وظیفې په مهال چې مولوي صاحب د هیواد په مرکزي ولایاتو کې د ګرځیدو په حال کې و په غزني ولایت کې د دښمن لخوا کشف شو او مسلسل د بې پیلوټه الوتکو تر تعقیب لاندې و. یوه ورځ مازدیګر مهال وروسته له دې چې د غزني په آب بند ولسوالۍ کې یې د ډیرو خلکو شکایتونه واوریدل او ډیر کارونه یې ورحل کړل. کله چې د دې ولسوالۍ له خلیج بازار څخه ووت. نو په موټر یې ډرون الوتکې بریدونه وکړل. توغندی د موټر له څنګ سره ولګید. موټر له ځمکې پورته شو او بیا په ځمکه وغورځید. مولوي صاحب په سر باندې لږ زخمي شو. خو ډرایو موټر وځغلاوه او په نږدې کلي کې یې پناه کړ. د نوموړي همسفر ملګری وایي چې کله ماخستن شو، جماعت مو وکړ نو یوه مجاهد مولوي عبدالمنان صاحب ته وویل چې نن خو د الله تعالی عجیب فضل درباندې وشو، چې بچ شوې. مولوي صاحب په ځواب کې ورته وویل چې هو رښتیا هم، خو زما په نظر د الله تعالی لوی فضل شهادت دی. زه چې اوس سپین ږیری یم او نور مې د خدمت وخت هم په تیریدو دی، دا به د الله تعالی لوی فضل وي چې شهادت رانصیب کړي.

مولوي صاحب دا خبرې وکړې او ویده شو. د سفر ملګری یې وایي چې د شپې بیا هم ډرون الوتکې ګرځیدلې او ماته خوب نه راته،سهار ته نږدې له سپیده داغ مخکې مولوي صاحب پاڅیدلی و، د اوبو لوټه یې ورسره اخیستې وه چې په باغ کې اودس وکړي او د تهجد لمونځ اداء کړي. مولوي صاحب د کوټې کړکۍ ته نږدې برنډه باندې په اودس کولو بوخت و، زه په داسې حال کې چې په نیم ویده نیم ویښ حالت کې وم، ناڅاپه مې د مولوي صاحب له خولې د (الله اکبر) غږ واوریدل. لږ شیبه وروسته لوی درب شو، د کړکۍ هنداري او خاورې په موږ را ولویدلې. لږ شیبه بې حاله وو خو چې پورته شوو او له کوټې ووتلو. و مو لیدل چې چې مولوي صاحب په وینو کې سور پروت دی. یوه پښه او لاس یې غوڅ شوي

دي او د تهجد د اوداسه په حال کې شهيد شوی دی. په ده باندې چې امريکايي ډرون الوتکې د توغندي برید کړی و نو په هوا کې يې د توغندي رڼا ليدلې و ځکه يې الله اکبر غږ وکړ چې ورسره په توغندي ولګيد او په دې سره د يوه سپين ږيري طالب مشر د ژوند داستان پای ته ورسيد. تقبله الله.

د سپين ږيري طالب مشر ـ مولوي عبدالمنان حنفي شهادت زما لپاره د غبطې وړ حادثه وه. هغه خلک بختور دي چې د الله تعالی په لاره کې په داسې ډول له دنيا سره مخه سره کوي. خو د دې واقعې له اوريدلو دوه ورځې وروسته مې د يوه بل طالب مشر ـ ملا محمد شفيق محمدي صاحب عجيب داستان واورید چې دلته يې درسره شريکوم.

ملا محمد شفيق محمدي د روزګان ولايت د دروشان ناوې اوسيدونکی يو تکړه جهادي قومندان و چې د شورويانو په وخت کې يی ستره جبهه درلوده. وروسته د اسلامي امارت په مهال د غزني، پکتيا، خوست او سمنګانو د والي په حيث يې هم وظيفه اجراء کړې ده. نوموړي پنځه زامن درلودل. چې دوه يې د ده په ژوند د بيلابيلو ناروغيو له امله وفات شوي وو. يو بل زوی يې حبيب الرحمن نوميده چې د امريکا ضد جهاد کې يې په دښمن فدايي برید وکړ.

د ملا محمد شفيق محمدي صاحب قريبان کيسه کوي، چې کله د نوموړی زوی فدايي برید وکړ او شهيد شو، نو د امارت ځينې کسان د ده کور ته ورغلل چې د زوی له شهادته يي خبر کړي. هغوی فکر کاوه چې ملا محمد شفيق محمدي صاحب به د زوی له شهادته په خبريدو ډير متأثر شي. هغوی چې دا خبره ورته کوله نوموړی دا وخت د يوه تفسير په ليکلو او خطاطۍ بوخت و، کله چې د زوی د شهادت خبره ورته وشوه، له خپلې مخې يې کاغذونه لرې کړل او ځای په ځای الله تعالی ته د شکر په سجده پريووت. کله چې له سجدې راپورته شو. نو يې وويل د الله تعالی حمد دی چې زما په زامنو کې شهيد پيدا شو. دوه زامن مې وفات شوي وو خو تر اوسه مې په کور کې شهيد نه درلود. الحمد لله چې د شهادت له نسبت ځخه محروم نه شوم.

د طالبانو دغه کيسې موږ ته راښيي چې دغه ډله په دې عصر ـ الفتن کې هغه اامتيازي او استثنائي ډله ده چې په الله تعالی باندې محکم ترين ايمان لري. د الله تعالی په دين يې داسې منګولې ښخې کړي دي چې په هيڅ ډول يې پرېښودونکي نه دي. دوی په خپل راسخ عزم او فداکاری سره موږ ته د صحابه کرامو(رضی الله عنهم) دور را يادوي، هغوی چې ژوند او مرګ يې ټول د الله تعالی لپاره وو او د الله تعالی په مينه کې يې د ځان، اولاد او مال مينه نه پيژنده.

ولې د اسلامي او ملي ارزښتونو سپکاوی کیږي؟

لیکوال :جمیل باور

پر افغانستان د امریکا له نظامي یرغل سره هم مهاله کلتوري یرغل هم پیل شو او په سلګونو رسنۍ یې د همدې ناولي هدف لپاره په کار وګومارلې ترڅو زمونږ د ځوان نسل افکارګډوډ او د دیموکراسي په وایرسو یې ککړ کړي.

افغان ولس، چې نژدې ټول مسلمانان دی، له زرګونو کلونو راهیسې ځانګړی اسلامي او ملي کلتور او ثقافت لري، خو په دې وروستیو کې یې ځینو هغو، چې د لودیز له فکري استعمار څخه اغیزمن دي، په اسلامي او ملي ارزښتونو ډول -ډول بریدونه کړی.

تر ټولو وروستی یې له څو ورځو راهیسې- په ټولنیزو رسنیو کې یو انځور ښکته پورته کیږي چې پکې د کرزي د واکمنۍ او اوسنۍ اداري مشاوره فرخنده زهرا نادري او ځینې نورې ښځې او سړي لیدل کیږي او ورسره په یوه پنجره کې پګړۍ) لونګی(او چادري) حجاب (زندۍ کیږي.

دا کوم عادي حرکت نه دئ چې څوک دې پرې چوپه خوله پاتې شي، پګړۍ زمونږ د اسلامي اوملي ارزښتونو هغه ځانګړي نوم دی چې مونږ ورسره له پیړیو پیړیو راروان یو،

همدغه راز حجاب او چادري مو هم له سلګونو کلونو راپه دېخوا د میرمنو د پت، عفت او عزت سمبول دی.

دغه ډول اسلام او افغان دنبمنه هڅې عادي او سطحي نشي بلل کیدای، بلکې دیوه سازش او جوړو شوو برنامو له مخې په غرب اوامریکاکې طرح او



ډيزاينږي او بيا دهغوئ دتاليځټو په زريعه دلته پلي کيږي

هدف يې داده چې نوی افغان کهول اونسل له خپلو ديني او ملي ارزښتونو سره بې تفاوته کړي او داخبره يې په خوږ کې وروځځوي چې ستاسې پرمختګ او له دنيا سره دمزل راز په دې تکي نغښتی چې خپلو ملي اقدارو او دوديزو نورمونو ته شا واړوي.

دپګړی او چادری توهين دکابل رژيم دمطرحو او لوړ پوړو جهتونو له لوري ترسره شو او له بل اړخه يې ددولت په سطحه چا مخالفت اوغندنه هم ونکړه له همدې شرمونکي چوپتيا ښکاري چې دغه کارونه په رسمي کچه ترسره کيږي او شاته يې قوي لاسونه موجود دي.

دچارو دکتونکو له نظره دپګړی اوچادري توهين اواستهزا په داسې حال کې ترسره کيږي چې امريکايان له طالبانو او اسلامي امارت له استازو سره په قطر کې په خبرو بوخت دی او ممکن يوې نتيجې ته ورسيږي، خودلته دامريکا تاليځټي اودکابل رژيم چارواکي هلې ځلې کوي او نړۍ ته ورپه يادوي چې طالبان هغه خلک دي چې په راتګ سره به يې افغاني غرور خوندي او دافغانانو شملي به ورسرعږه هسکي شي او هم به افغاني عفت ته مصؤنيت وروبښي اوداکار دامريکا او غرب په اصطلاح له ۱۸ کلنو لاسته راوړنو سره صريح ټکر او ضددی

دکابل رژيم چارواکي اولويدلي ځيري دې واوري ددوئ که خوښه وي که ناخوښه دغه ورځ دالله پاک په نصرت ډيره نيږدي ده چې دشملو برم او عزت به يو ځل بيا اعاده کيږي ،دافغاني عفت اوعصمت به په رسمي کچه درناوی کيږي او دبرښډ اومزدور کلچر په تابوت به ورستي ميخ ټکوهل کيږي ان شاءالله.

داعش د موصل له نوري جامع جومات څخه؛
په امريکايي چورلکو کې تر انتقاله

■ قاری سعید خوستی

په ۲۰۱۴م کال د جون میاشتې په ۱۰ تاریخ د جمعې لمانځه پرمهال د موصل د جامع جومات په منبر یو پوخ تور ږیری سړی وخوت او ویې ویل: زه ستاسې ټولو مسلمانانو خلیفه وټاکل شوم په خیر کې زما مرسته وکړئ او له بدی څخه مې منعه کړئ.

د ۲۰۱۴م کال د همدې میاشتې په ۲۹ تاریخ بیا د داعش ویاند عدناني وویل: اسلامي خلافت اعلان شو او په ټوله نړۍ کې امارتونه، حزبونه ګوندونه، ډلې باطلې شوې او په ټولو باندې د خلیفة المسلمین سره بیعت فرض شو.

د عدناني دا غږیز پیغام چې د (ویومئذٍ یفرح المؤمنون) تر عنوان لاندې، په ډیره کبرجنه لهجه پکې خبرې شوې وې او د نړۍ ټولو مجاهدینو ته بلنه ورکړل شوې وه چې د خپل ځایې مشرانو په ضد بغاوت وکړي او د خلافت سره یوځای شي.

د نړۍ مجاهدینو ته ترټولو حیرانوونکې دا وه چې عدناني د نړۍ ټول انسانان د هغه په اصطلاح دوو فسطاطونو ته وویشل :

- فسطاط الکفر لاایمان فیه او- فسطاط الایمان لاکفر فیه

معنی په نړۍ کې ټول انسانان یا مسلمانان دی چې هدف یې ترې د بغدادي سره بیعت کوونکي وو او یا کافران دي چې هغوي سره ایمان نشته.

داعش د ډلې نوم نه دی داعش د فکر نوم دی.

داعش په ۲۰۱۴م کال نه دی پیدا شوی بلکې داعش د ذوالخویصرة، زهیربن حرقوص ابن

ملجم عبدالله بن سبأ یهودي د خارجي فکر ماډرن ډول دی.

داعش په عراق او شام کې وروسته له هغې چې دوی ته سپارل شوی کار ترې واخیستل شو، په فاسفورسي بمونو له منځه یوړل شو.

دا لوړ جنګي تاکتیک دی چې دښمن په دښمن وهل کیږي ځکه دا چاره نه مصارف غواړي او نه تلفات.

امریکایانو د داعش په توسیع سره په عراق او شام کې همدا هدف پرته له مصارفو او تلفاتو ترلاسه کړ.

په افغانستان کې د دې کامیابۍ فارمولې اجرا کول په ۲۰۱۴م کې پیل شول.

په افغانستان کې د امریکایي اشغالګرو او د کابل ګوډاګي اداري له لورې د داعش د پټ او ښکاره ملاتړ څو بیلګې په لاندې ډول دي.

ـ په ۲۰۱۵م کال د اپریل په ۲۳مه د کابل اداري د پکتیکا والي عبدالکریم متین وویل: د امنیت شورا په پکتیکا ولایت برمل او ځینو نورو ولسوالیو کې د داعش ډلې په هغه کورنیو چې له وزیرستان څخه راکډه شوي، ۲۰۰ زره ډالر ویشلي.

نومورې همدا راز وویل چې د امنیت شورا مشر په لاسلیک د داعش کورنۍ د زابل ولایت دایی چوپان او ځینو نورو ولسوالیو ته انتقال شوي.

د امنیت شورا مشر حنیف اتمر په ځای د دې چې کریم متین څخه د تورونو سپیناوی وغواړي، نوموړی یې له دندې وشړل.

ـ په ۲۰۱۵م کال د مې په ۱۳ بیا د همدې کال د جولای په ۱۰ بیا د ۲۰۱۶م کال د فبروري په ۲۲ د کابل اداري په پارلمان کې ډیرو غړو د امنیت شورا د مشر حنیف اتمر او د جنرال جرأت د استیضاح غوښتنه وکړه چې حکومت پرې سر ونه ږراوه.

ـ په ۲۰۱۶م کال څو ځله د ننګرهار ولایتي شورا غړو غوښتنه وکړه چې د امنیت شورا او فضل هادي مسلمیار د داعش په ملاتړ تورن وو باید ترې پلټنې وشي خو نه هم مسلمیار او نه امنیت شورا د دومره مهمې موضوع په اړه خوله چوله کړه.

ـ په ۲۰۱۷م کال سیپټمبر په ۳مه د کابل اداري په پارلمان کې د امنیت شورا له لورې د داعش ملاتړ او سیمو ته د هغوی د انتقال موضوع بیا راپورته شوه چې د کابل اداري چارواکو بیادا موضوع نادیده ونیوه.

ـ په ۲۰۱۷م کال د نومبر په ۸مه په کابل کې د میلادالنبي په غونډه برید وشو چې پرې یې داعش ډلې په غاړه واخیسته خو له برید سمدستي وروسته د ملي امنیت کسان راغلل او د

غونډې په تالار کې ټولې لګیدلي پټې کامرې یې ځان سره یوړې چې د غونډې تنظیموونکو د پیښې پرې په داعش نه بلکې د هیواد په ملي امنیت ورواچول.

د هیواد په ختیځ ننګرهار ولایت کې په ځلونو طالبانو هڅه کړې چې داعشي ملیشې په بشپړ ډول له منځه یوسي خو د داعش د ناکامۍ پرمهال امریکایي الوتکې مداخله کوي او د طالبانو د جګړې لومړۍ لیکه بمباروي که بیا هم طالبان په شا نه شي افغان او امریکایي ځواکونه سیمې ته پیاده کیږي او عملیات پیلوي چې داعش ته نجات ورکول کیږي.

ــ په ۲۰۱۸م کال د اکتوبر په ۳مه اسلامي امارت په لغمان ولایت ځینو ولسوالیو کې د داعش په خلاف عملیات پیل کړل چې امریکایي او افغان ځواکونو مخامخ مداخله وکړه او هڅه یې وکړه چې هلته داعش له نابودۍ وژغوري خو ونتوانېدل او داعش په لغمان کې په بشپړ ډول له منځه لاړ.

هغه مهال چې د لغمان داعشیان د کونړ چپې درې دیګل درې ته لاړل هلته هم په دوی عملیات وشول او د قاري عبید داعشي په کور کې داسې انځورونه پیدا شول چې د هغه ورور د حنیف اتمر سره ناست دی.

د فیروز په نوم د بل داعشي هغه کارت هم پیدا شو چې ټولو امنیتي منسوبینو ته هدایت شوی چې فیروز د یوې امریکایي توپانګچې د ګرځولو امر لري او باید څوک ورته مزاحمت ونکړي.

ــ په ۲۰۱۹م مې میاشت په ۱۷ د ننګرهار ولایتي شورا غړي اجمل عمر رسنیو ته وویل: د ننګرهار والي شاه محمود میاخیل په دې ولایت کې د داعش ملاتړ کوي او کوشش کوي چې طالبان په داعش وټکوي.

نومورې وویل: د ننګرهار والي ته د رسنیو په وړاندې د مخامخ مناظرې چیلنج ورکوي.

هغه وویل: تیار دی چې هیوادوالو ته هغه اسناد وړاندې کړي چې د ننګرهار ځایي ادارې د داعش څخه د ملاتړ په اړه ېې لري.

ــ همدا سږ کال له څو اونیو راهیسې د کونړ په ګڼو ولسوالیو کې د داعش په وړاندې د طالبانو پراخ عملیات روان دي چې د ۲۰۱۹م کال د جون په ۲۰مه امریکایي ځواکونو مداخله وکړه او د نورګل ولسوالۍ د مزار درې د کرچندو سیمې ته د افغان ځواکونو سره لاړل او د داعش ځینې غړي او مشران یې بیا د طالبانو له محاصرې راویستل.

هغه داعشي خلافت چې د موصل د نوري جامع مسجد څخه اعلان شوی ؤ په افغانستان کې د طالبانو د ځپلو لپاره له یوه ولایت څخه بل ولایت ته په الوتکو کې انتقالیږي.

آیا چنین است آزادی بیان ؟

حبیبی سمنگانی

اگر نشرات و مطالب رسانه های داخلی و خارجی در مورد افغانستان را منصفانه تحلیل بکنیم، خبرها و راپورهای زیادی را پیدا می کنیم که جنبه بزرگ تبلیغاتی و اهمیت اندک خبری دارد. هدف رسانه ها از چنین خبرها و گزارش ها داغدار و متضرر ساختن حیثیت مجاهدین و یا هم زیر سوال بردن ارزش های اسلام و جامعه افغانی می باشد. اما شاید در هفته ها و ماه ها نتوانیم خبری پیدا بکنیم که نیروهای خارجی و یا اداره کابل فلان جنایت مرگباری را در فلان ولایت مرتکب شده اند. حال اینست که هیچ شب و روزی نیست که بخش های مختلف کشور شاهد جنایات جنگی و ضد بشری آن ها نبوده باشد.

بطور نمونه، امروز - ۳۰ جون ۲۰۱۹ - زمانی که این مقاله را می نوشتم به وبسایت بی بی سی فارسی رفتم، بی بی سی این خبر را با جزئیات زیادی به نشر رسانده است که طالبان یک زن را که متهم به خیانت از سوی شوهرش شده بود با ضربات گلوله در ولسوالی قیصار ولایت فاریاب کشتند، اما این خبر را نیافتم که نیروهای امریکایی و اداره کابل شب گذشته در جریان عملیات بر یک مدرسه دینی در ولسوالی چک ولایت میدان وردک ۷ تن شاگردان خوردسال مدرسه را بی رحمانه به شهادت رساندند. واقعیت اینست که حال دیگر رسانه های نامدار از بی بی سی هم بدتر است.

در جنگ هژده ساله امریکایی ها و متحدان شان در افغانستان، یقینا هزاران جنایات جنگی و بشری به گونه عمدی و ارادی از سوی آن ها رخ داده، و جان هزاران غیر نظامیان افغان به شمول زنان و کودکان را گرفته است. اما اگر درین مورد

تمام خبرها و گزارش های رسانه هایی چاپی و برقی، صوتی و دیداری که در ظرف دو دهه منتشر شده است جستجو شود، شاید به صد واقعه هم نرسد. زیرا رسانه های که لاف از آزادی بیان می زنند اجازه ندارند که ابتکار و معلومات واقعی خود از جنایات جنگی نیروهای ائتلافی پرده بردارند.

این رسانه ها تنها از واقعاتی خبر می دهند که از سوی نیروهای ائتلافی (پس از واکنش های گسترده در شبکه های اجتماعی و یا تظاهرات مردمی) تائید شده باشد. این رسانه ها حتی در مورد آمار تلفات و جزئیاتِ رویداد نیز به گفته های دروغین سخنگویان ناتو، پنتاگون و اداره کابل اکتفا می کنند. زیرا می دانند که در صورت سرپیچی با مشکلات زیادی رو برو می شوند. آنچه بر شبکه خبری «ای بی سی» در اوائل ماه جون امسال رخ داده است، این موضوع را بهتر می تواند برای ما واضح بسازد.

پولیس استرالیا روز چهارشنبه ۵ جون بر ساختمان مرکزی شبکه خبری ای بی سی (خبرگزاری دولتی استرالیا) در شهر سیدنی هجوم بردند. پولیس فدرال استرالیا در جستجوی منابعی بود که گویا اسناد محرمانه ای را در اختیار رسانه ها گذاشته اند. آن اسناد عبارتست از معلومات در مورد جنایات جنگی سربازان استرالیای که بین سال های ۲۰۰۵ و ۲۰۱۶ میلادی در افغانستان مرتکب شده اند. «جان لیونز» خبرنگار ای بی سی در صفحه تویتر خود ادعا کرد که نیروهای پولیس (در تفتیش ۸ ساعته خود) ۹۲۱۴ اسناد را که بیشتر آن ایمیل های داخلی بود تک به تک بررسی کردند.

پولیس استرالیا ۳ خبرنگار وابسته به ای بی سی را متهم ساخته است که در انتشار اسناد محرمانه دست دارند. آن ها در اثنای بازرسی دفاتر ای بی سی، در جستجوی تفتیش از دو خبرنگار این شبکه بودند که در تهیه گزارشی به نام «اسناد افغانستان» در سال ۲۰۱۷ میلادی مشارکت داشتند. پولیس استرالیا یکروز پیش - سه شنبه ۴ جون - خانه آنیکا اسمثورت، خبرنگار دیگر استرالیایی را نیز در کنبرا، پایتخت استرالیا تفتیش کرده بودند.

«اسناد افغانستان» گزارشی بود که شبکه ای بی سی با استفاده از اسنادی که بدست آورده بود، در سال ۲۰۱۷ میلادی از طریق برنامه تلویزیونی خود پخش کرده بود. این گزارش از چندین موارد کشتارهای احتمالی کودکان و غیر نظامیان افغان در عملیات های نیروهای ویژه استرالیایی پرده برداشته بود.

پس از نشر- آن گزارش، اداره بازرسی ارتش استرالیا خبر داده بود که واقعات احتمالی جنایات جنگی سربازان استرالیا در افغانستان را بررسی می کند و حتی اعلان کرده بود که اگر کسی معلومات در مورد تخطی های نیروهای استرالیایی در افغانستان داشته باشد با ما تماس بگیرد. اما با گذشت دو سال نه تنها اقدامی در برابر نیروهای

جنایتکار صورت نگرفت، بلکه بالاخره ژورنالستان و رئیس شبکه خبری که به تهیه و نشر آن گزارش پرداخته بودند مورد عتاب قرار گرفته اند.

اگرچه صدر اعظم و وزیر امور داخله استرالیا در مورد این عملیات پولیس فدرال کشور ابراز بی اطلاعی نموده، ادعا کردند که از آزادی رسانه ها حمایت می کنند. اما پولیس می گوید که این تحقیقات به درخواست وزارت دفاع انجام می شود.

حاصل اینکه بجای که تحقیقات در مورد جنایات جنگی ارتش استرالیا در افغانستان به نتیجه یی می رسید، امروز همان گزارشگران به جرم اینکه اسناد محرمانه کشور را فاش کرده اند مورد تحقیق قرار گرفته اند. دلیل پولیس استرالیا اینست که این موضوع به امنیت ملی ما ارتباط دارد.گویا این درس است برای تمام رسانه های امریکایی و اروپایی که جنایات جنگی نیروهای امریکایی و متحدان آن را در افغانستان، عراق، شام، لیبیا و... نادیده بگیرند، تا امنیت ملی این کشورها در خطر نیافتد.

حال اینست که استرالیا در لیست شاخص آزادی رسانه ها که از سوی خبرنگاران بدون مرز ترتیب داده شده، در جایگاه بست و یکم قرار دارد. گویا استرالیا از جمله کشورهای ممتاز و پیشتاز در عرصه آزادی رسانه ها است. پس چطور خواهد بود حال دیگران ؟

بلی، رسانه های ظاهرا آزاد، بی طرف و بشر-دوست موضوعات بی شماری را برای لب گشایی در اختیار دارند. می توانند جامعه، ارزش ها و مقدسات مسلمان ها را آماج نقدهای تند و تیز خود قرار بدهند، می توانند افکار و باورهای مسلمان ها را کهنه و فرسوده بخوانند، می توانند از رشد دموکراسی، سیکولاریسم و لبرالیسم در کشورهای اسلامی مژده بدهند، می توانند مسلمان ها را در برابر یکدیگر انگیزه بدهند، می توانند شب و روز برای ترویج فرهنگ غربی دست بکار شوند، می توانند لحظه به لحظه از مسابقات فوتبال، کرکت و والی بال اطلاع بدهند، می توانند مردم را به دنیای سرود و موسیقی تشویق بکنند. اما این واقعیت انکار ناپذیر است که نمی توانند از جنایات روز افزون و مرگبار سربازان خونخوار امریکا، ناتو و متحدان شان حرفی بگویند.

بلی، این تنها یوناما، سیگار، سازمان های حقوق بشر، حقوق زن و حقوق اطفال نیست که خون مردان، زنان و کودکان افغان را بی ارزش و رایگان می دانند، بلکه رسانه های «آزاد» و «بی طرف» نیز جرات این را ندارند که برای پیکرهای پارچه پارچه و خون آلود مردم مظلوم افغانستان حد اقل صدا و ناله یی بکنند.

د دفاع وزارت په لوجیستک ریاست برید

دکابل د رژیم پوځي اوامنیتي وړتیا وننګوله!!

بشیر سمسور

دروان ۲۰۱۹زکال دجولائي په ۲مه نیټه دهیوادپه پلازمینه کې د دفاع وزارت دلوجیستک ریاست پرودانۍ باندې طالبانوپخپل یوکامیاب اوهدف لرونکي برید سره یوځل بیا دکابل رژیم امنیتي او دفاعي وړتیا اوصلاحیت ترسوال لاندې راوست او هم یې وښوده چې دوی(طالبان) په هروخت اودهیواد پلازمینې په ګډون هرځای چې وغواړي کې دداسې سترو دقیقو اوهدفمنو بریدونو کولو صلاحیت اوتوان لري اوکابل رژیم یې په مخنیوي کې دپخوا په ځیرناکام اوپاته دی.

دطالبانو ویاند ښاغلي ذبیح الله مجاهد رسنیوته په لیږلي خبرپاڼه کې دیاد برید په اړه ویلي: اته نیمې بجې شاوخوا داسلامي امارت پنځه تنه مجاهدین(حافظ کامران دننګرهار، مولوي احمد مدني دلغمان، طالعلم همدرد دکابل، صدیق احمد دکندهار، اوحافظ محمدعمر دمیدان وردګ) چې ټول په سپکو اودرنو وسلو سربیره په انفجاري توکیو اوبمونو مجهز و ، دغه کامیاب برید داسې ترسره کړ،چې لومړی کافظ کامران دباروتو اوچاودیدونکو توکیوڅخه یوډک موټرته ددفاع وزارت دلوجستیک ریاست ودانۍ په دروازه انفجار ورکړ چې په دې سره په مخ کې پراته ټول امنیتي کمربندونه مات شول اوپه تعقیب یې پاتي ځلور استشهادي مجاهدین دیاد ریاست ودانۍ ته ننوتل .

دښاغلي مجاهد له قوله: په یاد ریاست کې په یو وخت د۳سوه او۴سوه ترمنځ پوځي صاحب منصبان ،افسر ان او پوځیان کارکوي، هغوی چې دچاودنې له املې په مړۅاندي حالت کې وو داستشهادي مجاهدینو دتندریزو بریدونو لاندې راغلل اویو،یوپه نښه شول تردې پورې چې دسهار په اته نیمې بجې پیل شوی برید دمازیګر تر پنځوبجوپورې وغځید اوپه دې ۸ساعته جګړه کې مجاهدینو دکابل رژیم دصفریک، صفردو اونورو مجهزو امنیتي ځواکونوسره لاس په لاس جنګ وکړ اودهغوی تعرضیان یې څوځله دودانۍ دپوړونوځخه دقیق په نښه کړل چې له املې یې دکابل رژیم په لسګونو عسکر مړه اوټپیان شول اوهم ددفاع وزارت په لوی شمیر لوجیستکي او اکمالاتي توکي اوتجهیزات تخریب او داور په لمبو کې ایره شول

کابل رژیم سره چې دنړیوالې میډیا ملاتړلري، هغه ددې برید په اړه کوښښ وکړې او په اول قدم کې یې دخپلوعسکرو مرګ ژوبله پټه وساتله او ورته اوښتي تلفات یې له رسنیو او نړیوالو څخه پټ کړل

په دوهم قدم کې یې هڅه وکړه چې څو وښیي چې په بریدکې دماشومانوکوم ښوونځي ته زیان رسیدلی دی اوپه لوی شمیرماشومان پکې مړه اوټپیان شوي ،دخپلې دې دعوې داثبات لپاره یې دمختلفو هیوادو په پخوانیو جنګونو کې دمتضرر اوټپیان شویو ماشومانو عسکونه خپاره کړل چې ګواکې هغوی هم په ننې برید کې مړه اوټپیان شوي دي په دې سره په خواله رسنیو کې دپروپاګند یو توپان راپورته شو اودماشومانو دعکسونوپه لیدو پخپله طالبان هم خوابدی شول خوکله چې خپلواکو سرچینو لخوا په لوی شمیر دماشومانو وژل کیدو خبر رد شو اوهم خپله دکابل رژیم دپوهنې وزارت سپیناوی وکړ چې دچاودنې دشدت له املې په یوښوونځي کې څوماشومان دښسښو ماتېدو له املې معمولي ټپیان شوي اوهیڅ هیڅ ماشوم وژل شوی ندی او دټپیانو ماشومانو حالت هم دډاډ وړدی نوجوته شوه چې دروغژن حافظه نلري اوکابل رژیم دروغ پخپله دهغه دپوهنې وزارت لخوا رد شول چې هیڅکله دبرید قربانیان ماشومان نه وو

دکتونکوپه نظر دطالبانو ددې نوي برید یوهدف شاید امریکا اوکابل رژیم ته دهغو وحشیانه بمباردونو په اړه ځواب ویل وو چې دتیرو څومیاشتو راهیسې یې دهیوادپه ولایتونو، ولسوالیو اوکلیوالوسیموکې پیل کړې زکه جوته ده چې دکابل رژیم نوردشړیدواونړیدو په درشل ولاړدی او دزوال شیبې یې رالنډې شوې دي هغه اوس هڅه کوي چې دخپلې ماتې غچ دعامو خلکوپه وژلو سره واخلي او ددې لپاره یې بمباردونه اوشپینې عملیات زیات کړې او په ترڅ کې یې هره شپه لسکونه ملګي وګړي په شهادت رسوي دبیلګې په ډول: دهمدې برید نه یوه ورځ وړاندې امریکایانو او دکابل رژیم وحشي- عسکرو دمیدان وردګ ولایت دچک ولسوالۍ دنیک پایګول درې په چهلګزیانوکې په یوې دینې مدرسې

باندې چاپه واچوله اوپکې ۷تنه تنکی طالبان يې په شهادت ورسول، حال داچې په يادې مدرسه کې ماشومانو هلکانو ديني سبقونه ويل چې دهغه کلي دخلکو لخوا جوړه شوې وه اوهم دخلکو په چندو اومرستو تمويل کيده امريکايانو او دکابل رژيم عسکرو وروباندې شپې چاپه ووهله اوپکې ميشت طالبان يې ووهل اوهم يې ۷تنه ترې په شهادت ورسول اوبيا دهغه وروسته يې په شاوخوا کورونو باندې حملې پيل کړې دخلکو کورونه يې والوزول، سپين ږيري يې ونيول وې وهل او۴تنه يې دځانو سره بوتلل اوهم يې دخلکو دکورونوڅخه دميرمنو زيورات غلا او لوټ کړل .

طالبانو پخپل برید سره هغوی ته داپيغام ورکړ چې تاسو که په ولس باندې ظلمونه اووحشتونه کوئ زمور دقهر لاسونه هم ترتاسو اوستاسو دمرکزونو پورې رسي او مور درڅخه دمظلومو هيوادوالو دوژلو او ځورولو غچ اخستلی شو

بل پلوته دا جوته ده چې دکابل رژيم پلیت ټغر دهيواد نه په ټوليدو دی، دهيواد په لروبر کې مجاهدينو بريالي عمليات پيل کړي دي اوپه دښمن يې دژوند کړې تنګه کړې پرلپسې ولسوالۍ دمجاهدينو په لاس سقوط کوي او دښمن ترې دتيښتې اووتلو په حال کې دی وروستۍ تازه ځيړنې ښيي چې في الحال دهيواد ٦۴ولسوالۍ په بشپړ ډول دکابل رژيم دواک نه وتلې اوهم دګنيو نورو ولسواليو دفترونه ولايتونوته انتقال شوي اوپه ډيرو کمو ولايتونو کې کم شمير ولسوالۍ به داسې وې چې هغه دې په بشپړه توګه دکابل رژيم ترواک لاندې قرار ولري نورې اکثريت ولسوالۍ ويشل شوې، دهرې ولسوالۍ دنيمائي په زياته برخه مجاهدين واکمن دي او پاتې نيمه برخه يې دکابل رژيم سره ده او هغه هم دمجاهدينوتربر يدونولاندې قرارلري او دنيولو کوښښ يې کوي.

کابل رژيم هڅه کوي دبمباردونو اوشپينو چاپو پر مټ هغه ولسوالۍ اوسيمې بيرته لاس ته وروړې اودخپل نفوذ ساحه وغځوي کومې دمجاهدينو ترواک لاندې دې هغه سرچپه نورې ولسوالۍ اوسيمې له لاسه ورکوي اودډيره قهره بيا په ولس باندې دخپلې غوسې بړاس وباسي خو د دوی دوحشتونوباوجود مجاهدين لګيادي خپلې دنفوذ ساحې پراخوي اوپه دښمن باندې بری ترلاسه کوي

دکابل برید جوته کړه چې مجاهدين ډيرپيچلې اودقيق نه دقيق اهداف هم په نښه کولي شي او په مقابل کې دکابل رژيم يې په وړاندې يې بيوسه اوبيواکه دی اوهغه ټول ترکيز په هوائي بمباردباندې کوي دکوم له امله چې ملکي خالکو ته سراومال درانه زيانونه رسي په مخامخ جنګ کې دطالب په وړاندې دمقاومت تاب نلری نوځکه لګيادی په دغسې ناڅونمردانه بريدونو اوبمباردونو سره دخپلې شرمونکې ماتې غچ اخلي.

غزنی در آتش جنگ می سوزد!

نوشته: خالد افغان زوی
ترجمه: مصعب بغلانی

پائیتخت تمدن اسلامی، زادگاه فردوسی، سنایی، هجویری، و البیرونی، پایتخت شکوهمند امپراتوری غزنویان، ماوا ومسکن هزاران تن از عالمان دین، عارفین، موطن غازیان، و دیار مردان نامدار و افتخار آفرین، شهر باستانی غزنی یک باردیگر آزمون بزرگ تاریخی از آن عبور می کند .

بلی، این در حالیست که جهان در اوج انکشافات استدراجی خود نفس راحت می کشد، اینجا نسل جوان ما در داخل کشور معتاد، غرق نیشه، یا در فکر کرکت بوده، تمام فکر وذهن شان متوجه برد و باخت بازی های جام جهانی هستند، قلم فرسایان و صاحبان فکر وهنر در گرو اربابان سیاست، شب وروز در پی جنجال‌های انتخاباتی، دعوا و کشمکش ها مصروف بوده و می باشند، در این ماحول افتخار وطن و جهان غزنی تیر ظلم و قساوت به سینه آن کوبیده شده و بدن آن در شعله های آتش سوختانده می شود.

اینبار غزنه در اثر کینه کدام علاوالدین جهانسوز داغ و بریان نمی‌شود، بلکه در بدی فرزند ناخلف خود (اسدالله خالد) گرفتار شده که وی آستین انتقام بخاطر دشمن اجنبی متجاوز (اسکات میلر) بالا زده و می خواهد تمام تاریخ هزار ساله دینی و علمی غزنه را یکجا نابود بسازد.

این ماه چندم است که مهد شکوفایی علم و تمدن در اثر حملات، و باردمان های طیارات آمریکائی، در عملیات های تخریبی، و در یورش های شبانهٔ قاتلان خاص داخلی، قتل عام و در آتش وحشت های دوامدار می سوزد، وحشت های روزمره چندماه گذشته را در جایش بگذار، بیا که به حملات خونین یک شبانه روز نگاه کوتاهی داشته باشیم که همه قربانیان آن مردم بی گناه بوده و خاک علم پرور وزادگاه تمدن ساز بودند.

در حدود یک شبانه روز طیاره بدون سرنشین آمریکای ها در منطقه سردی ولسوالی شلگر غزنی یک موتر کرولا مردم عام ملکی را مورد حمله قرار داد که در اثر آن ۴ فرد ملکی بی گناه از باشنده گان محل (هریک جمال، ولی

محمـد، سـیدخان، و محمـد یوسـف) جابجـا بشـهادت رسـیدند، پـس از مـدت کوتـاهی در مربوطـات قریـه خوشـحال همـین ولسـوالی در حملـه طیـاره بـدون سرنشـین محمـد امـین و عصمت الله نام باشنده قریه نرمي و۲ فرد عام ملـکی از باشـندگان محـل بشـهادت رسـیدند، همچنان در جریان همان روز در مربوطات قریه هـای مـلا گـلان، وجـوی دو، همـین ولسـوالی در طی حملات طیاره بدون سرنشین ۷ تـن مـردم ملـکی بشـهادت رسـیدند کـه ۳ تـن از آنهـا باشندگان وچی قلا ولسوالی خواجه عمری و ۴ تـن از آنـان کـوچی هـا بودنـد، در ایـن حمـلات ۲ مـوتر و یـک موترسـائکل مـردم ملـکی نیـز از بـین رفت.

اگـر اسـکات میلـر بـه وسـیله طیـاره خـود بـا هدف قرار دادن مردم ملکی در شلگر سینه خود را سرد مـی‌سـازد، طـرف دیگـر قـاتلان زیـر امـر اسدالله خالد در مرکز غزنی آتش بغض و کینه خود را با قساوت زیاد بالای مـردم منگور خالی کردند، همچنین قوای عساکر اجیر قاتلان خاص بـر قریـه منگـور یـورش بردنـد، دوکـان ۳ تـن از دوکانداران بنام های خلیل، قربان، و فریدون را شکسـته و اجنـاس موجـود را بـه سرقـت بردنـد، در آن قریه بالاخانه حاجی سرور نام و گاراج موتر ها را توسط بمب منفجر ساختند، منزل یکتن از باشندگان محل به اسم حاجی عبدالله را تخریب، یـک موترسـائکل آن را بـه آتـش کشـیدند، و زمانیکه ایـن جانوران وحشی از قریـه بیـرون مـی شدند سه عدد مواشی باشندگان محل را کشتند پس از آن بسوی لانه خود برگشتند.

طـرف دیگر در شب همین روز در منطقهٔ برلـه ولسـوالی قره باغ غـزنی آمریکایی ها همـراه قاتلان داخلی بالای آن منزلی یورش بردند که در آن خانـه مـراسم عـروسی جریـان داشـت، عسـاکر وحشی. دروازه ها باشندگان محل را شکستانده، ۵ موتر سائکل مردم عام ملکی را آتش زده پس از چـور و چپـاول اجنـاس واشـیاء قیمـتی سـاحه را ترک کرده رفتند.

آخـرین خـبر رسـیده از پایتخـت تمـدن غـزنی اینسـت کـه حـوالی سـاعت ۵ عصـر دیـروز در منطقـه خارخشـه ولسـوالی شـلگر بـاردیگر طیـاره بدون سرنشـین آمریکایی ۳ تـن مـردم ملکی را که باشـنده منطقـهٔ حبیـب گودلـو همـین ولسـوالی بودند هدف حمله قرار داد که جابجا به شهادت رسیدند.

قصه این آتش و فاجعه برای امروز و فردا نه تنها در غـزنی بوده، بلکه در همـه جای کشـور داسـتان همـه روزه گردیـده اسـت، وحشـیان آمریکـایی، جـانوران داخلی، پـای خـود را از دایـره اصول اخلاق، وعاطفه انسانی فراتر گذاشته اند.

دشمن وحشی خیلی جسورانه وآشکار دست بـه وحشـت و دهشـت زده و بـه قتـل عـام روی آورده اند که روزانه بطور اوسط اضافه تر از ۳۰ تن خون افراد ملکی را می چوشند .

خیـر باشـد تـاریخ ایـن دوران هـم مـی گـذرد، بـاردیگر غـزنی وغزنویان ازهـراس قسـاوت ظالمـان سر را بلنـد خواهنـد کـرد، همـین زمـین و آسمـان غـزنی بـوده و مـی باشـد، لکـن بـه جهـان سـوزیان همیشه نفرین فرستاده خواهد شد.

محمد مرسي په کوم جرم ووژل شو؟

حسن زوی

په محکمه کې دقاضي ترمخه دمصردتاريخ دترټولو ړومبني منتخب لری کړی شوي ولسمشر دکتورمحمدمرسي مړينې دټولومسلمانانواوپه ځانګړي ډول دمصريانو په زړونو او اعصابو ډېرې جورې اغېزې کړيدي .

محمدمرسي څنګه ناڅاپه راپرېوت او ومړ؟

دالا تر دې دمه ناجواب شوې پوښتنه ده اوشايدهيڅکله يې هم جواب ونه موندل شي .

دهغه مرګ چې په مشکوک او له تشويش نه ډک حالت کې وشو پدې هکله ډېرې پوښتنې رامخې ته شويدي ؛ دبشر دحقوقود ادارو اوقانون پوهانو له لورې پدې هکله داعتراضونو لړۍ روانه ده او له هرلورې دسمو څېړنولپاره اوازونه راپورته شوي خو دمصر داوسني دولت په شتون کې منصفانه او آزاده څېړنه له امکان نه ډېره لرې ښکاري .

دالاخوان المسلمون سياسي څانګې ويلي دي چې په مصرکې داقتصادي بحران ،غربت اوبې کاري ډېره زياته شويده چې له امله يې د دولت پرضدپه خلکوکې دپاڅون احساس مخ پرزياتېدو وو اوډېروسياسيونو ددې ستونزې حل دمحمدمرسي په ببرته راويستلو کې ليدلوچې داکار دسيسي لپاره دمنلوړ نه و نوځکه يې هغه په زندان کې قتل اوله سحنې لرې کړ.

دمصردچارو پوهان هم ورته نظر لري او وايې چې د السيسي د نه جوړ جاړي له امله محمدمرسي وژل شويدی ؛ پدې اړه خپرو شويو راپورونوکې راغلي دي چې دروژې مياشت کې السيسي- دخپل دولت يو لوړې پوړی پلاوی هغه زندان ته ورلېږلی و په کوم کې چې محمدمرسي او داخوان المسلمون ګڼ نورمشران زندانيان وو؛ پلاوي داخوان المسلمون مشرانو ته ويلي وو چې که مرسي دالسيسي- دولت

ومنې نو په بدل کې به يې دولت دمرسي او داخوان المسلمون دمشرانو پرضد جوړی شوې دوسې بندې کړي اومرسي به دخپلې کورنۍ سره يوبهرني هېواد ته ولېږي ؛ له اختر وروسته هم دا پلاوی څوځله زندان ته ورغلی و اود اخوان المسلمون مشرانو مرسي ته د دولت پېغام رسولی و خومرسي نه وه منلې نوځکه دولت هغه له منځه يوړو.

دمصر اسلام خوښي سياسي ولسي گوند(دعدل او آزادۍ گوند) مشر عمرو دارج په هماغه ړومبۍ ورځ وويل چې مرسي په خپل طبعي مرگ نه بلکې دفلسطين ډيخواني ولسمشرياسرعرفات په څېر ډپلان له مخې زهر ورکړل شوي اووژل شويدی .

هغه غوښتنه وکړه چې په نړيواله سطحه دې ددې خبرې دسپيناوي لپاره کميسيون جوړ او آزاد تحقيقات دې وشي ؛ کوم دولت چې هغه وژلی دی دهغه دولت څېړنې دمصرخلکوته دمنلو وړ ندي ؛هغه زياته کړه چې دمرسي کورنۍ دې ترهغې خاورو ته د مرسي دسپارلو اجازه نه ورکوي ترڅوچې دبهرنه دراغلي طبي ټيم له لورې دمرسي دجسد طبي څېړنه نه وي شوې او دمرگ اسباب يې معلوم شوي نه وي .

دمحمدمرسي دمرگ په اړه په خپل خپور کړي تفصيلي راپور کې الجزيره تلويزون هم ويلي دي چې محمدمرسي ته څو ځلی دخوشی کولو اويو بهرني هېواد ته دلېږلو وړاندیز شوی خو هغه رد کړيدی .

الجزيره وړاندې وايې چې اصل خبره داده چې دهېواد ټولو بې طرفوجهتونومرسي دهېواد قانوني ولمشر گڼلو اودهغه معزولي يې دمصر د اوسني بحران اصل سبب گڼلو ؛ دمصر کابو ټول سياسيون پدې نظر دي چې په مصرکې دسخت دريځۍ دنوې څېړې اصل لامل په زندان کې دمرسي شتون دی ؛ مصر دنړۍ په هغوهېوادونو کې تر ټولو وړاندی دی چې يې فوځي افسران دندې پرېږدي او له مسلحو ډلوسره يوځای کېږي ؛ سيف العدل اوهشام العثماوي فوځ کې لوی افسران وو خو اوس دالقاعده او د انصار بيت المقدس ډلو مشري کوي چې داخبره دمصرۍ دولت لپاره ډېره ستره ننگونه ده.

دمرسي معزولولو اوزندان ته يې ليږلو دمصرځوانان سخت ناهيلي اوپر دولت بې اعتماده کړيدي نوځکه دمصر دوستو هېوادونو هڅه کوله چې دزندان نه دمرسي په راويستلو دولت له مشکلاتو راوباسي ؛ دمصر يو دوست هېواد د زندان نه دمرسي راويستلو او دخپلې کورنۍ سره يوځای يې جرمني ته دلېږلو مصارف هم پرغاړه اخستي وو خو مرسي دې جوړ جاړي ته چمتو نه شو.

د ديکتاتور السيسي- له لورې دمحمدمرسي دوژل کېدلوخبره يوائې داخوان المسلمون غړي يا نوراسلام خوښي مصريان نه کوي بلکې دهغه مخالفين هم دمحمد مرسي دناڅاپي مرگ خبره دتوجواوڅېړنې

وړ ګڼي ؛ د شباب الثورة په نوم دمصر دولسي حرکت نامتوغړي یاسر الهواري ویلي دي چې باید له دولت نه دمحمدمرسي دعلاج په باره کې دغفلت کولوپوښتنه وشي اود زندان په شپو ورځوکې چې هغه ته کوم خوراک اودواګانې ورکړل شویدي راپوریې خلکوته وړاندې کړای شي .

یاسر الهواري حسن مبارک اومحمدمرسي ته ددولت له لورې دورکړل شویوطبي اسانتیاو موازنه کړی او ویلی یې دي چې حسن مبارک به محاکموته دحاضربدو نه پس دقاهرې تر ټولواعلی اودلوړو لګښتونو روغتون ته وړل کېدلو ؛ طبي معاینات به یې دامریکانه راغلو ډاکټرانوکول او یو مستقل طبي ټیم به یې ۲۴ ساعته په خدمت کې و خو د محمدمرسي سره دومره ظلم روان وچې زندان کې به عادي ډاکتر دوا ورکوله اودابه یې هم نه ښکاره کوله چې هغه په کومو مرضونو اخته دی او مریضتیا یې سطحي یا جوره ده ؟

دیادولو وړ ده چې تېر کال دبرتانې دپارلمان غړو اودبشردحقوقو یوګډ ټیم هم دمصری دولت نه غوښتي و چې د مرسي روغتیا دې توجو وکړي ګیني هغه دمرګ له ګوابښ سره مخامخ کېدای شي خو پردې غوښتنې هم دولت غوږ نه و ګرولی .

په نړیواله سطحه نامتوقانون پوه (ریس ډیویز) دمرسي دمړینې په هکله دتحقیقاتو غوښتنه کړیده او ویلی یې دي چې دمرسي دمرګ خبره دومره اسانه نده څومره اسانه یې چې دالسیسي اداره ګڼي ؛هغه کوم داسې ترویست نه وچې فوځي زندان کې یې ساه ورکړی اوکیسه یې پای ته رسېدلی وي ؛ هغه یو منتخب ولسمشر و او د دولت په زندان کې ومړ پر دولت لازم وه چې هغه ته یې هر ډول طبي اسانتیاوې برابرې کړی وای .

ښاغلی ډیویز ویلي چې محمدمرسي لا میاشت وړاندی ویلی و چې دولت یې د وژلو اراده لري ؛ طبي اسانتیاوې ورته ندي برابرې او دخپلو وکیلانو سره دلیدلو اجازه هم نه ورکول کېږي .

په مصرکې دبشر دحقوقو نړیوالو ادارو هم ویلي دي چې داسې ګڼ شواهد ددې خبرې ګواهي ورکوي چې محمحد مرسي مړشوی نه بلکې وژل شویدی.

مثلاً دا چې داځل محاکموته دحاضرولوپرمهال داسې امنیتي تدابیر نیول شوي وو چې وړاندې یې هیڅ ساری نه لیدل کېږي ؛ د کورنیووچارو دوزیر دوه مرستیالان هم راغلي وو چې وړاندې کله داسې نه و شوي ؛محاکموته دمحمدمرسي د وکیلانو اومرسته کوونکوقانون پوهانوبې ساري سخته تالاشي اخستل شوی وه اود تېر برعکس ورته دموبایل تلیفونونو وړلو اجازه هم نه وه ورکړل شوی ؛ دقاضیانوترمخه محمدمرسي دځه ویلو اجازه وغوښتله ؛ داجازې ورکول کېدو نه پس هغه وویل چې صحت مې ډېر

خراب دی ، په روانې اوونۍ کې څوځله بې هوښه شوی یم خو راته طبي مرسته نده راکړل شوی ؛ بیا یې وویل دخپلو وکیلانو سره دې راته دخبرو اجازه راکړل شي ،څه اسرار ورته ښکاره کول غواړم ؛ داد مصر- دملت اړوند ډېر مهم خطرناک اسرار دي چې زما سینه کې دي اونه غواړم چې همداسې زما سینه کې پاتې شي .

خو هغه ته دخپلو وکیلانو سره دخبرو اجازه ورنکړل شوه بلکې مایکرافون وربانديې پرې شو چې څولمحې پس هغه پرشیشې پوښل شوې وسپنیزې پرنجې کې بې هوښه شو اوراپرېوت ؛ دبې هوښۍ سره سم ټول پولیس اودامنیت لپاره ګومارل شوي تنان له سحنې ورک شول په نوروپنجروکې بندوداخوان المسلمون غړوډېرې چغې ووهلې چې مرسي ته دې ژر ډاکتران حاضرکړای شي خوترنیم ساعت پورې هیڅوک رانغلواو ایله هغه وخت پولیس بهرته راغلل چې دده مړینه یقیني شوی وه .

دهغه جسدبهرته طره نومي زندان ته یوړل شو کوم کې چې له تېرو ۳ کلونو راهیسې هغه زنداني و ؛ په سبا یانې دجولای په ۱۸مې نېټې په زندان کې دننه دهغه جنازه وشوه چې پکې دهغه ددوه ورونوپه شمول دکورنۍ څینوغړو اویوشمېر هغوقانون پوهانو چې دده قانوني مرسته یې کوله ګډون وکړ اوتر شدیدو امنیتي تدابیرو لاندې دقاهرې د النصرسیمې په هغې مقبره کې خاوروته وسپارل شو کومې کې چې دالاخوان المسلمون درې مرشدین دفن دي ؛ مرسي د الاخوانالمسلمون دمرشدعام مهدي عاکف په څنګ کې دفن شو ؛ مهدي عاکف په د۲۰۱۷م کال په ستمبر میاشت کې په همدې طره نومي زندان کې وفات شوی و.

نودې ټولو شواهدوته په پام سره نېږدې ټول مصریان همدا یوه خبره کوي چې محمدمرسي ته هم دفلسطین د ولسمشریاسرعرفات په څېر زهر ورکړل شویدي ؛ دروان ۲۰۱۹م کال په فروري میاشت کې دیاسرعرفات پخواني مشاورابوشریف د اردن تلویزیون سره دخبرواترو پرمهال وویل چې یاسر عرفات ته اسرائیلوپولیونیم زهر ورکړي وو.

دیادولو وړ ده چې د۲۰۱۵کال دنومبرمیاشت کې دسویس پوهنتون دطب څانګې دیاسر عرفات دمړینې په هکله یو ۱۰۸ مخیز راپور خپور کړی و چې پکې یې پدې خبرې اعتراف کړی چې یاسر عرفات دپولونیوم زهرو پر مټ وژل شوی و.

دلته هم زیات احتمال دی چې مرسي ته دې زهر ورکړل شوي وي ځکه چې دزنداني کېدو په ړومبنو ۴ میاشتوکې هغه تری تم و او دیو انسان سره یې هم نه و لیدلي اوکوم خوراک چې هغه ته ورکو ل کېدلو دهغې هیڅ راپور نشته چې څه ورکړل شویدي .

برتانوی جریدې انډې پینډنټ هم ویلي دي چې کله دقاضي سره دخبروپرمهال مرسي دشکر دتیټېدو له امله بې هوښه اوبیا راپرېوت نوله ۲۰ دقیقو نه زیات هغه همداسې پروت و؛ طبي مرسته خولې خبره ده هغه چا راپورته هم نکړ او چې کله پولیس راغلل او امبولانس راوغوښتل شو نو امبولانس هم پوره نیم ساعت پس راورسېد اوبیا دطبي مرستې لپاره روغتون ته یوړل شو؛ له دې معلومېږي چې مرسي عمداً وژل شوی .

دمنځني ختیځ لپاره دانډې پینډنټ همکار بیل ټریوو ویلي دي چې مرسي ته دقاضي سره دخبرو کولو لپاره ایله ۵ دقیقې وخت ورکړل شوی و چې دخبروپه جریان کې هغه دبې هوښه کېدونه پس راپرېوت اوپه دغه وخت کې په امنیت گومارل شوي تنان دمرسي دپورته کولو او اولیه مرستې ورکولوپرځای عمداً غائب شول اوچې دشلو دقیقو نه زیات وخت تېر شو نو ایله راپیدا شول ؛ دانډې پینډنټ همکار وایې چې مرسي دشکر پرته ډېر مرضونه لرل نوورسره دډاکترانودیوټیم شتون اړین و؛ دانډې پینډنټ همکار داهم ویلي دي چې یوعیني شاهد حداد راته وویل چې دمرسي دبې هوښه کېدو پرمهال دلته ډاکتران موجود وو اوهغوئ په ډېر تاکید داغوښتنه وکړه چې مورږ ته دې دمرسي د راپورته کولو او اولیه مرستې ورکولو اجازه راکړل شي خو پرامنیت گومارل شوو تنانو اجازه ورنکړه اونه یې ورته دهغه وسپنیزه پرنجه خلاصه کړه بلکې پخپله چرته ورک شول.

پدې راپورکې داهم راغلي چې د مرسي داسارت پر مهال په ۲۰۱۳م کال کې ډاکترانو دهغه دزړه عملیاتو سپارښتنه کړې وه خو دولت خپل دا مسئولیت نه و ادا کړې .

دمصر په ټولنیزورسنیوکې ډېرو خلکو په ډېر جزم داخبره لیکلی ده چې دمرسي لپاره جوړه شوی وسپنیزه پرنجه ټوله په شیشې پوښل شوی وه اوپکې داکسیجن دتدریجي کمولونظام هم فعال شوی و ؛ مرسي چې دقاضي سره خبرې کولې په تدریجي ډول دهغه آکسیجن کم کړای شوی و ترڅودقاضي په وړاندې دهغه ساه بنده او ډېرې خبرې ونشي کړای چې همداکار دهغه دمړینې سبب وگرځېد.

دمالیزیادپلازمېنې کوالالمپور نه خپرېدونکې مشهورې انگلیسي ورځپاڼې (کوالالمپور پوسټ) کې راغلي دي چې دمالیزیا دولت وهره ښکاره کړیده چې شاید هغه وژل شوی وي نوځکه یې له مصرې دیکتاتور السیسي نه غوښتي دي چې دمحمدمرسي تفصیلي طبي راپور دې ورته وړاندې کړي ترڅو دامعلومه شي چې هغه خوبه وژل شوی نه وي ؟

همدا راز دملگرو ملتونو دبشر دحقوقو ادارې هم له السیسي غوښتي چې دمرسي دمړینې په هکله دې نړیوالو ادارو ته دځېرنې موکه ورکړې ترڅو په پرنجې

کـې دمـرسي دمړينـې پـه هکلـه راپيداشويو شکونوته ځواب وويل شي .

د(کويت ټـوډی) لـه لـورې داسرائيلو دلومړی وزيرنتن ياهويوه لنډه ويډيو خپره کړيـده چـې پکـې صهيونستي لومړي وزير ويلی دي چې مورږ مرسي ته د دوسـتی لاس وراوږدولو هڅې کړی وې خو هغه اسرائيـل يـو نـاروا دولت ګڼلو او دفلسطين دازادی لپاره يې هڅې کـولې نوځکه مورږ دهغه پرضد پاڅون کې برخه واخسته .

دنړيوالو له لورې دځپړنو ډپرې زيـاتې غوښـتنې کېږي خود السيسي دواکمنـی پرمهـال درښـتنې اوپـر انصاف ولاړې ځپړنې هيڅ تمه او توقع نه شي کېـدای ؛ پدې هرځـوک پـوهېږي چـې دمصر ـ دمنتخـب دولـت پرضد له کودتاه نيولې دمحمدمرسي تروژلوپورې چـې السيسي څومره ظلمونه کړيدي دا ټول يې دامريکـا او اسرائيلو په لمسون کړيدي ؛ دالسيسي سره چې دده پـه ځپرسل نورحاکمان يوځـای شي پـه خپـل جـرأت دهغـه کارونوعشر عشـير هـم نـه شي کـولی کـوم يـې چـې وکړل.

تاسې وګورئ !پـه نـړۍ کـې چـې کـوم فـوځي ديکتاتور دمنتخب دولت پرضد کودتا وکـړي دلويـديځ اوپه ځانګړي ډول دامريکا اړيکې ورسره څومره زياتې خرابېږي اوځومره بنديزونه ورباندې لګـول کېـږي خـو دلته چې السيسي دمنتخب دولت پرضـد کودتـا کـوي اوبيا په زرونو ولسي وګـړي وژني اوپـه لسـګونوزره زندانيان کوي نودلويديځ او په ځانګړي ډول دامريکـا اړيکې ورسره ډېـرې ښـه کېـږي او ټـول وحشـت يـې دتائيد وړ ګڼل کېږي.

نو امريکا او اسرائيـل چـې وي دمحمـد مـرسي دمرګ په هکله ديوې سلنې سمې ځپړنې تمه هم نه شي کېدای بس نړيـوالې اداري بـه دخلکـو پـه سـترګوکې دخاورو اچولـو اودخپـل نـاپيلتوب ښـکاره کولولپـاره خپلې اندېښنې ښکاره کوي او ددولت نه به دموضـوع په هکله دسمو ځپړنو څو ګرمې ګرمې غوښتنې وکـړي د السيسي اداره به څه وعدې وکړي اوچـې څـه وخـت تېر شي بيابه پخپله موضوع سړه شي .

ممنوع مِن الصرف

حفيظ الدين پيرزاده
ستاکهولم سويدن

زما د ګران ملګري دکتور اظهار الحق عزيز صيب په شمول ټول نحويان په دې انـد دي چې عـربي نومونـه د تصريف له مخې په دوه ډوله دي!

يوه ته يې منصرف اسمونه وايي چې پخپـل بـيخ کـې تغير قبلوي او دويم يې غير منصرف يا ممنوع مِن الصرف دي چې که هر بلا يې پـر سر راشي بـيخ يـې نـه خـوځي لـه ځايه، غر خو هسې وي کنه!

منصرف خو لکه د شمال ټلواله هر تغير پخپله اخـري يا کومه بله برخه کـې لـه لـږ فشـار يـا تطميـع سره منـي، د بيلګې په توګه عطا، عبد الله او نور چې يـو وخـت يـې ښـې مبارکې مسنونې اوږدې ږيرې وې خو اوس يا هيڅ نشته يا د نشت برابر!!

يو وخت يـې د اخـوانيزم ببـولالې غـږولـې او اوس د سيکولرزم!!

يو وخت يې ديموکراسي کفـر بللـه، خـو اوس يـې تـر ټولو ستر ډنډوره چيان!!

له دوی به تير شو خو غيـر منصرف اسـمونه د خپـل بيخ کش کول (مجرور) نه مني يانې که هره بلا پرې راوړې، اخر يې لکه د طالبانو دريځ ناقابل تغير ميباشد!

همدا راز له تنوين (دوه پيښه، دوه زبره او دوه زيره) سره يې داسې پخه دښمني ده لکه د غني چې له سولې سره ده، په هيڅ راز يې نه مني!

دوستانو! دا خبرې تير کال ما جنت ګل ته هغه مهال کړې وې چې زه افغانستان کې وم او د هغه د پلار وزير ګل ليدو ته تللی وم!

جنـت ګـل د نحـوې امتحـان درلـود او پـر مبنـي او معرب نومونو يې سر نه و خلاص!

وزير ګل په کـټ کـې اوږد غزيـدلی او پـه ځـان يـې ځادر را خپور کړی و.

ما جنت ګل ته دا هم ويلي و کوم نومونه چې په خپل آخر کې تغير نه قبلوي، بايد دوه سببونه او يا يو سبب چـې د دوو ځاينناستی وي موجود وي.

بيا مې ورتـه د سـببونو شـمير پيـل کـړ. مـا لا همـدا خبرې کولې چې وزير ګل کټ کې نيغ کيناست او راته يـې کړل:

زوروره! تا خو نور هم ورته سخت کړ!! ولـې سـاده او عملي مثالونه ورته نه بيانوې؟!

ما وويل ساده او عملي مثالونه؟! هغه جنت ګل ته مخ کړ او ورته يې وويل:

ګوره بچيه! په جلال آباد او پيښور کې دې که بسونو، رکشو او ټکسيانو ته کلـه پـام کـړی وي، دا شـعر يـې پـرې ليکلی وي:

زړه خو راته وايي چې له ښکليو کرايه مه اخله
يو مې غريبي ده، بل د ګاډي مې قسطونه دي

دلته اوس د ګاډي يا ريکشې خاوند لـه ښـکليو څخـه کرايه نه اخيسته، يانې له کرايې اخيستو منصرف و خو دوه داسې سببونه پيدا شو چې هغه يـې لـه خپلـې ارادې څخـه غير منصرف کړ او هغه دوه سببونه لکه څنګه چې په شـعر کې ذکر شوي، اول د سړي غريبي او دويم د ګاډي قسطونه دي!!

سر دې خلاص شو؟

جنت ګل د څټ په ګرولو نه د هو ويلو جوګه و او نـه يې د نه ويلو جرئت کولی شو!

وزير ګل ما ته را وکتل او و يې ويل: تـه څنګـه؟! پـوه شوې؟

ما ورته کړل: ستا دې ساده او عملي مثـال (!) خـو زه هم ګنګس کړم.

وايي کوم طالب وپوښتل شو، زيد کومه صيغه ده؟

هغه ورته په ځـواب کـې وويـل: د دوه ياګـانو خلطـه مضارع!

يوه ی يې طالبانو ترې په ضرب، ضربا، ضربو ګوزار کړه، بله ی چې د زيد په سر کې وه، شيعګانو ترې ګوزار کړه.

آخر يې حی علـی الفـلاح تـرې را و ايسـت پـه وزن د زيړې بلبلې!!!

هغه راته وويل: زه خو د دې طالب په اعـلال پـوه نـه شوم او بله دا چې زيد څنګه صيغه ده؟

ما ورته کړل: ستا او د هغه طالب پـه سـاده او عمـلي مثالونو پوهيدل اسانه خبره نه ده!

وزير ګل په جنت ګل غږ کړ:

بچيـه! لاړ شـه او کاکـا تـه دې داسې ښـه مزيـدار د شيدو چای راوړه!

جنت ګل پاڅيد چې کور ته لاړ شي، خو پلار يـې بيـا ورته وويل: زويه! مور ته دې ووايه چې تور چـای ډيـر وا نـه چوي چې بيا د سړي زړه سيزي ، شيدې هم ډيـرې مـزه نـه کوي او د بورې پر ځای دې چايو ته هغـه ګـوړه ور واچـوي چې ما تيره مياشت له کامې راوړې وه!

جنت ګل وويل: سمه ده پلاره او روان شو، خـو وزيـر ګل بيا پرې غږ کړ خو ګوره مور ته دې ووايه چې له ګـوړې سره هم احتياط وکړي! هغه ماته زما يو کامـه وال اشـنا پـه تحفه کې راکړې او هسې هم کاکـا خـو دې هوښـيار سـړی دی، پوهيږي چې ډيره خوږه صحت ته مضره ده!!

ما ورته کړل: ممسک انسانه!

ته چې هر څومره خپل بُخل او کنجوسي د خـبرو پـه لفافو کې پټه کړې، زه دې پيژنم!

تا دې الله ما کره راولي، زه به دې هم خوښ شم!

د تور چای يو دوه پـانې پـه خولـه کـې در اچـوم، يـو ګيلاس ګرمې اوبه درته مخې ته ږدم، د شيدو تصوير درتـه په ټيلفون کې راولم او بوره خو به را څخه په دوربين کې هم ونه ګورې! هغه خو هسې هم صحت ته مضره ده!

وزير ګل په کړس کړس وخندل او راته کړل يې: يره د نيکۍ زمانه نه ده! ما خو دا هر څه د مهربـانۍ لـه مخـې وويل. زما اشنا يې، راته ګران يې، ما سره ستا د صـحت غـم دی!!

ما ورته وويل: سمه ده، تا دې هم الله تعـالی مـا کـره راولي چې د مهربانۍ په مقابل کې دې دوه چنده مهربـاني درسره وکړم!!

جنت ګل چايو پسې لاړ او ما وزير ګل ته وويل:

هلکه! جنت ګل ځوان دی. ولې واده ورته نه کوې؟!

هغـه ځـواب راکـړ: اراده مـې وه خـو دلتـه هـم دوه سببونو غير منصرف کړم!

ما وويل: کوم سببونه؟

ځواب يې راکړ:

يو مو غريبي ده، بل يې پاتې سبقونه دي!

د جهاد او سنګر مخکښ مجاهد شهید

مولوي عطاء الله (حجت) رحمه‌الله ژوند ته ګڼه!

احمد حمزه

زوکړه: مولوي عطاء الله (حجت) د شیرمحمد زوی په کال ۱۳۵۰ل کال د پروان ولایت د غوربند سیاګرد ولسوالۍ د وازغر درې د ایوب خېلو په کلي کې زېږېدلی.

زده کړه او هجرت یې:

ابتدائي زده کړې یې تر اتم ټولګي پورې د وازغر په مکتب کې وکړې، بیا د قمچاق درې مولوي محمد ظریف سره یې دیني زده کړې پیل کړې، تر تکمیلې پورې یې درسونه وویل، دغه مهال د اسلامي تحریک آغاز وشو ، له طالبانو سره د شر او فساد په مقابل کې یوځای شو، له نوموړي درسونه پاتې شول، د اسلامي امارت له سقوط وروسته ګاونډي هېواد پاکستان په لومړي ځل له خپلې کورنۍ سره لاړ او هلته یې د سوات په منګوره کې یو ځل بیا دیني زده کړې پیل کړې ، په سیدو ديني مدرسه کې یې وړه دوره وکړه ، لویه دوره یې د همدې ښار په چارباغ مدرسه کې له شیخ الحدیث مولوي عبدالحق څخه وکړه او د فراغت سند یې په ممتاز لومړۍ درجه نمرو ترلاسه کړ.

د درس په مهال یې امامت هم درلود او د غوربند د طالبانو سرپرستي یې هم کوله او ترڅنګ یې طالبان جهاد ته هم تشویقول.

په سوات کې د دیني زده کړو د تکمیل وروسته شمشتو ته یې مهاجر شو، د مهاجرت په وخت کې په ډېر فقر او تنګدستي په حالت ژوند تېراوه، خو بیا یې هم وخت په وخت د صلیبیانو په خلاف جهاد کې برخه اخیسته، د هغوی ورور کیسه کوي چې کله نوموړی شمشتو کې و، له یو دوکاندار څخه یې ۱۰۰۰۰ لس زره روپۍ ددې لپاره پور کړې

چې جهاد ته لاړ شي، ځينو خلکو به له رشځنده ويل چې په لس زره روپيو چا جهاد شروع کړی او په دومره کمو پيسو به ځوک اکمال او چاته به يې ورسوي خو د غره په څېر سينه يې درلوده او خپل همت يې نه بايلود.

تدريس: نوموړي به د زده کړې پرمهال په جومات کې ملايي او تدريس درلود، کله چې وطن ته ستون شو نو د غوربند په خپل کلي جومات کې يې له تدريس سره همهاله خلکو ته ترجمه کوله، کله چې نوموړي زندان کې و، د ټولو طالبانو مشر استاد و، هلته يې د مدرسې پوره نظام برابر کړی و، زندان کې طالبانو ته د حديثو ستر کتابونه تدريسول.

جهاد او مبارزه يې:

مولوي عطاء الله حجت د سنګرونو نومیالی او اتل مخکښ مجاهد و، نوموړی لا تازه ځوان شوی و، چې شوروي د افغانستان په پاکه خاوره يرغل راوړ، د شوروي په مقابل کې د غوربند ځوانو مجاهدينو په کتار کې يو هم مولوي صاحب و چې په مختلفو محاذونو او سنګرونو کې وجنګېد، او د دواړو جهادونو ویاړ يې په برخه و.

د طالبانو په اسلامي تحريک کې ونډه:

د اسلامي امارت تحريک په شروع کېدلو نوموړی خپل درسونه په نيمايي کې پرېښودل او له تحريک سره يوځای شو، د طالبانو سره د شمال په جنګونو کې اوږه په اوږه وجنګېد، کله چې په شمال کې د طالبانو ليکو سقوط وکړ، خو د غوربند مجاهدينو بشپړ استقامت سره خپلې جبهې وساتلې او د سقوط تر آخيره مجاهدين د غوربند غيرتي ولس په بشپړه همکاری محفوظ پاتې شول.

د تحريک په جنګونو کې يو واړې په بغلان کې د هزاره ګانو لخوا ونيول شو، په زندان کې هزارګانو غوښتل چې له هغوی سره شته مجاهدين شهيدان کړي، نوموړي خپله کوله چې هزارګانو به خپلو کې غږېدل چې قصابي به يې کړو، نوموړي مولوي صاحب له نورو مجاهدينو سره ترتيب برابر کړ او په پيره دار يې حمله وکړه، له هغه يې توپک واخيست او پاتې هزارګان يې ووژل، چې روغ رمټ خپل ځای ته ستون شو.

د امريکا د يرغل په وړاندې جهاد:

د اسلامي امارت له سقوط وروسته کله چې يو ځل بيا د امريکايانو په خلاف جهادي سنګرونه په هيواد کې مخ په پراخېدو شول، مولوي صاحب عطاء الله لومړنی مجاهد و چې په غوربند کې د يرغلګرو په خلاف يې جهاد شروع او په چريکي عملياتو پېل وکړ.

د اشغال په لومړيو کې چې کله نوموړی په غوربند کې وسلوال مقاومت شروع کړ، نو د کابل رژيم عسکر چې په ډېره بې پروايي کې و، د مولوي صاحب په مشري په سياګرد ولسوالۍ ودانۍ ته دننه چې عسکر پکې ويده و، دوی ننوتي و او بمونه يې ځای په ځای کړې و، خو متاسفانه چې بيا يې د تخنيکي مشکل له وجې انفجار ونه کړ، له هغې وروسته يې په رنګاو پله او نورو مختلفو ځايونو کې عمليات وکړل.

خپل دوه تکړه ملګري يې د اعداد لپاره معسکر ته ولېږل، ترڅو د منفجره موادو استادان شي او په ښه توګه د يرغلګرو په مقابل کې جهاد وکړي.

د ۱۳۸۵ هـ ش درېمه مياشت وه چې مولوی صاحب عطاءالله (حجت) او خپل دوه ملګري چې د منفجره موادو استادان و، د کابل په داخل کې عمليات پېل کړل، دوی په ډېر لږ وخت کې وتوانيدل چې په کابل ارزان قيمت کې د امريکايانو ټانګونه په نښه کړي، دغه دروان کې يې ګڼې امريکايي شوبلې ټانګونه والوزول او امريکايان يې په نښه کول.

دا نو په کابل لومړني چريکي او اپراتيفي عملياتو پېل و، وخت په وخت يې خارجي او داخلي ګوډاګيانو ته مالي او ځاني تلفات اړول.

نوموړي يو وخت يو ټانک الوزولی و، چې په هغې کې د CIA درې مهم لوړ رتبه غړي مردار شوي و، دغه ورځ امريکايانو په کابل ښار کې پوره ورځ او شپه لار بنده کړې وه او څوک يې تګ راتګ ته نه پرېښودل، له دې عملياتو وروسته امريکايانو نوموړي پسې ډېر کوښښ شروع کړ او په نوموړي يې لس لکه ډالر انعام کېښود.

بندي کېدل:

په کابل او غوربند کې له ګڼو عملياتو وروسته نوموړی يرغلګرو او د هغوی غلامانو ته ډېر مهم او هدف وګرځېد، د ۱۳۸۵ هـ ش کال شپږمه مياشت روانه وه له خپل څو تنو ملګرو سره يو ځای په کابل ښار کې ونيول شو، تحقيق رياست کې دري مياشتې تر تحقيق لاندې و، بيا دوه نيمې مياشتې په ۱۷م رياست کې دتحقيق لپاره وساتل شو، بيا پلچرخي ته انتقال او هلته شاوخوا دوه کاله و، هلته يې تدريس شروع کړ، مدرسه يې جوړه کړه، حکومت دغه وخت غوښتل په زندان کې

مشران مجاهدین او عالمان شهیدان کړي، مولوي صاحب په څه ترتیب ځان گردیز محبس ته انتقال کړ، له هغه پروگرامه بچ شو، په گردیز کې یې بیا تدریس شروع کړ، تردې چې د محبس کارمندان هم د نومورې د قرآن کریم تفسیر ته کیناستل، بالآخره دلته هم څه له مودې تېرولو وروسته چې ټول پنځه کاله یې پوره کېدل، د کرزي په فرمان د راخلاصېدو زمینه ورته برابره شوه، کله چې مولوي صاحب له زندان ووځي، دغه مهال له دروازې بهر ورته خارجیان ولاړ و او بیا ونیول شو، دا ځل یې ریاست نود ته انتقال کړ، دوهم تحقیق یې په ډېر ظلم او شکنجو، وحشت او بربریت سره تېر کړی و، په نومورې د وحشي ظالمانو لخوا مختلفو تعذیبونو کې ساتلی و، یوه نمونه یې دا وه چې مولوي صاحب یې ۱۸ شپې او ورځې له یو پښې ځوړند کړی و او بل د لاسو او پښو نوکان یې ورځخه په پلاس ویستلي و، بیا خو مولوي صاحب په تحقیق کې اقرار نه و کړی، نومورې ځلویښت ورځې بعد خوشې او خپل کلي ته وگرځېد، بیا شهید مولوي مطیع الله چې هغه وخت د سیاگرد ولسوال و، له هغه سره د ملاقات کولو وروسته یوځل بیا د خپلو ملگرو سره عملیات شروع کړ، د مولوي صاحب ښه استعداد، اخلاص او غوره اخلاقو له مخې امارت د پروان ولایت د والي مرستیال وټاکه، د نومورې په مسئولیت کې په غوربند کې فتوحات شروع شول او ډېرې ساحې ددښمن له وجود څخه پاکې شوې.

دندې او مسئولیتونه:

- د اسلامي امارت په دوره کې د ریاست چهل زون شرقي مسئول و،
- وروسته په جلال آباد کې د علماو د شورا رئیس و
- د پروان ولایت د کمیسیون رئیس په توگه
- وروسته د همدې ولایت لپاره مرستیال والي وټاکل شو.

غوره صفات یې:

الله تعالی مولوي صاحب ته ډېر ښه صفات ورکړي و ، نومورې، د صبر، استقامت، تقوی، سخاوت شجاعت او بهادری یوه نمونه وه، د ملگرو په انسجام او اتحاد کې یې ستر رول درلود، همیشه په حق دربده، په ملگرو کې یې ډېر محبوبیت او مقبولیت لاره.

له عوامو خلکو سره ډیره نرمه له حکمت نه ډکه رویه کوله، د مولوی صاحب له اخلاقو نه ټول خلک متأثره وه، ځکه خو مولوي صاحب په خلکو کې هم ډیر محبوبیت درلود او بې ساري مینه یې ورسره کوله، د نومورې په لیدلو به د هر مسلمان سترگې پرې ډکېدلې، بل مولوی صاحب ډیر غښتلی، تکړه او زیرک و، د ژوند او وخت په ټولو چارو اگاه و او د هر مجاهد په زړه کې یې ځانته ځای درلود، هر مجاهد دا احساس کوه چې مولوی صاحب خاص زما ملگری ده.

نوموړی ډېر تقوی داره و، یو ملګري وویل چې : کله چې نوموړی د امارت په دوره کې د پل ماموت خان د څو پوستو مسئول و، نو د امارت لخوا نوموړي ته ۲ بایفور ورکړل شوې خو هغه ﷺ رد کړې او هغوی ته یې ویلي و چې: دې شیانو سره زما علاقه نشته او خوند نه راکوي، دا هغه وخت و چې قومندان به په یوه پوسته هم حاکم و نو بایفور به یې افتخاري غوښتله.

ډېر مخلص و، یو مجاهد وایي چې نوموړي فراست درلود، ډېر کرته به یې د یو شخص په هکله خبره وکړه چې دا غلط یا ناسم سړی دی، بیا به همغه شخص رښتیا ناسم وخوت.

قومندان ستار دملک غفور زوی چې د اسلامي د تحریک په مهال په شمال کې د طالبانو په خلاف د مسعود سره په یوسنګر کې جنګېده او په دې جهاد کې یې هم د طالبانو په خلاف عملیات کول، دمولوي صاحب ورسره په رابطه کې شوی و، دعوت یې کړ ، بالاخره هغه ومنله چې له ټولو وسائلو سره به تسلیمیږي، خو مورږ ته به د چا لخوا نه ضرر نه رسیږي، عطاء الله مولوي صاحب ورته ویلي و چې: داسلامي امارت دروزاه د هرچا ترمخ خلاصه ده، مورږ ورته لبیک وایو، خو دا چې جرایم مو کړي، بې ګناه خلک مو وژلي که چا عریضه درلوده، نو تاسې د شریعت منګلو ته سپارو.

شهادت:

کله چې نوموړی د ولایت معاون و، غوربند ته هیئاتان راغلل، هغوی د مجاهدینو حالات له نزدې څارل، د مجاهدینو نظم او دسپلین د پخوا په پرتله ډېر ښه شوی و، په کال په ټولو ولایتونو کې پروان ولایت په نظم او دسپلین، اتفاق او له خلکو سره د مجاهدینو په غوره برخورد کې کې مخکښ و،

د قوس په ۲۴مه د ۱۳۹۱هـ ش د چهارشنبې شپه وه، راغلی هیئت د مولوي صاب په کور کې حضور درلود، طیارې ډېرې ګرځېدې، ملګري پوه شول چې چاپه ده، هغوی غوښتل چې راغلي میلمانه له ساحې وباسي، شاوخوا ساحه ښه ګنډه په ونو پوښل شوې وه، مولوي صاحب په ډېر تدبیر میلمانه محفوظ ځای ته ولېږل او خپله په یواځې ځان له امریکایانو سره په جنګ کې ښکېل شو، مولوي صاحب زخمي شو، هغه په ګنډو ونو او باغونو منځ کې د خپل زخم پټې کولو لپاره بل نژدې کلي ته ځان ورساوه، خو طیارو هغه تعقیب کړ، همدا مهال نور پنځه مجاهدین هم دده مرستې ته راورسېدل، د شپې یوه بجه وه، نوموړی خپل زخم پټې کړ، دغه وخت بې پېلوټې او ډبډبکې اوازونه ورو نژدې کېدل، چې سمدلاسه څو راکټه فایر شول، مولوي صاحب له خپلو پنځو ملګرو سره یوځای د شهادت جام نوش کړ. نحسبهم کذلک والله حسیبهم.

دا خو نو مورِ یو چې لا هم ورته د بشپړ کابل اداره وایو

محسن پکتین

پخوانی ولسمشر خو لا هم ارګ میشت اشرف غني د خپلې واکمنۍ په پیل کې د ځینې ګاونډیو لاسوهنې ته په شه ویلو له پخوانیو چارواکو شې لوړې څوکۍ راخالي کړې او پر هغو یې و وښلې چې د نړۍ او لیرې پردیو ګټو ته ترټولو ژمن و، رحمت الله نبیل یې راوغورځاوه او پرځای یې حنیف اتمر کښاوه، دوستم یې لومړۍ مرستیالۍ ته غوره کړ او داسې نور...

دوی یې هم د خپلې واکمنۍ له پیله او د هغې په اوږدو کې نړۍ ملاتړې او آن شې لاس ګنډل کېدل، د واکمنۍ په لومړیو۲۴ساعتو دننه یې د هېواد د خرڅلاو او بیا کرار کرار یې د ډېورنډ خیالي کرښې مرموزې معاملې په ګډون ډېرو نورو هغو کې یواځینې او ترټولو نړۍ اله کار همسنګران و.

خو غني او ورسره پاتې ډلګۍ یې چې اوس له یوې اوږدې او ګواښونکې انزوا سره مخ دي، له بل لوري د خپل تېر واك د نور غځولو په هوس کې له هرڅومره لاس پښو وهلو سربېره له هغه ټول څه بې برخې شکاري چې دغه بقایې ورپوري تړلې، د واکمنۍ په پای کې یې اله کارو همسنګرو لاري تړې بېلې کړې، بلکې لا د همدې واك پرسر یې ټول سرسخته سیاسي مخالفان وګرځېدل او د هغه د راپرځولو او د واك دوام له منځه وړلو لپاره یې په هره ممکنه هڅه کې شول چې لاهم دوام لري.

هغوی وروسته له دې چې ځینو یې په مسکو کې له طالبانو سره هم دوه پېره ناستې ترسره کړې او ور سره همغږي شول، په دې وروستیو کې د ګاونډي هېواد پاکستان د پنجاب ایالت په مري شارګوټي ته لاړل چې د دې هېواد له ځینې ګوندي مشرانو او ځینې نورو سره د سولې په نوم ناسته درلوده.

ناسته چې پکې سپکې او درنې خبرې وشوې ځینو افغان سیاستوالو پکې په څرګندو ټکو او ځینې نورو یې په یو نه یو ډول د غونډې کوربه هېواد د افغان سولې اړوند هڅې په داسې حال کې وستایلې چې په هېواد دننه یې د ټولو بدمرغیو او ناخوالو مور او پلار ګڼي او ډېر زیات ترې کړېږي او ګرېږي.

ور پسې څو ورځې له مخه غني هم د یاد هېواد لومړي وزیر عمران خان په نړۍ دوه میاشتې وړاندې بلنه اسلام آباد ته د دوو ورځو په سفر لاړ، د نومورې د سفر اجنډا د سولې او امنیت، افغان مهاجرینو، سیمه ایز اتصال، سوداګرۍ او ترانزیت پر تړاو د دې هېواد له چارواکو سره خبرې شودل شوې.

خو زیاتر فعالان او سیاسي شنونکي په دې اند دي چې نومورې پر خپل واك د پاتې کېدو هوس په سر اخیستی او وروسته له هغه چې د ده مخالفو سیاستوالو د پاکستان پنجاب ایالت ته سفر او بیا یې د هېواد په پلازمېنه کابل کې د هغه خلاف یوه ناسته را وبلله او یو ورځنی لاریون یې وکړ، هغه له څلورنیم کاله ځنډ وروسته یوځل بیا ګاونډي هېواد ته سر ور شکاره کړ ترڅو راتلونکو ټاکنو کې د بریالیتوب لپاره د دې هېواد ملاتړ راخپل کړي، خو د یاد هېواد لومړي وزیر لا له وړاندې ویلي و چې د افغان ولسمشر-یزو ټاکنو کې د هیڅ یو نوماند ملاتړ نکوي.

که څه هم د تېري جوزا له لومړۍ نېټې راوروسته د غنـي واك پـاى تـه رسـېدلى او د هغـه لـه لـوري د چارواکوتبـديلي او هـرډول فعاليتونـه نامسـئوله او خپـل سري دي خـو بيـا هـم يـې وړمـه ورځ خپـل ويانـدان چخانسوري او حسين مرتضوي له دنـدو گوښـه کـړي، پـه نورو دنـدو يـې گـمارلي او ورسره يې.....صـادق صـديقي خپل ويانـد او د ولسي- حرکـت پـه نـوم پديـدې د تمويـل مسئول غفور لېوال يې په ايران کې د افغان سفير په توگه ټاکلي دي چې د ځيني کار پوهانو له انده دا يې له ځانـه د مخـالفو سياسـتوالو د خـولې بنـدولو لپـاره وروسـتۍ غورځي پرځي دي.

غني په داسي حال کـې خپـل سري فعاليتونـه کـوي چې له يو لوري يـې د واك مـوده مياشـت وړانـدې پـوره شوې او له بل لوري له طالبانو سره د امريکايي پلاوي پـه اوه ځله د سولې بهير ناستو کې په ټوليز ډول منزوي شوى چې نه ورسره تـر اوسـه د يـادو ناسـتو جريانونـه شريـك کېږي، نه د سولې بهير کې برخه ورکول کېږي او نه هـم د هغه ډله او فعاليتونه يې د يوې په رسميت پېژندل شوې اداري په توگه منل کېږي، دا خو نو مـوږ يـو چـې لا اوس هم ورته د بشپړ کابل اداره وايو...

دا چې ځيني راپورونه ور کول شوي کـه د طالبـانو او امريکايي پلاوي روان اووم پړاو ناسته د تېرو هغـو پـه څېر کومه څرگنده پايله ونه لـرې طالبـان د سـولې خـبرې تحريمـوي او جگړې ته به زور ور کړي، دغې ناستې ته يې د دواړو لوريو او هم ولسونو پراخې هېلې رابوټولې دي.

تردې چې ارگ هم هېلـه شـودلې چـې لـه دې سره سم به المـان د غنـي لـه ډلې سره د هغـې د حکومـت پـه حيثيت لرلو طالبان د سولې خبرو ته کښـوي، خـو دا چـې طالبان له تېر ۱۸کاله راسي له امريکايانو پرته د حکومـت په نوم کومه اداره نه منـي چـې ورسره خـبرې وکـړي، نـو چې له امريکا سره د ځواکونـو پـه وتلـو او لـه هبـواده د نړۍ او سيمې نه تهديد پـه دوو مهمـو ټکـو هـوکړې تـه ورسېږي او حکومت هسي هـم نـه وي بلکـې يـوه خپـل سړې ډله د امريکايانو خلا پرځان ډکه بولي هغه به يـا پـه سوله ايز ډول د خپلمنځي ډيالوگ له لاري د طالبـانو لـه مخې وزي او يا به له منځه وړله کېږي.

بيا نو افغانان سره پاتې او پوهېږي چې طالبـان بـه ښايي د منتخب حکومت په توگه او ښايي د افغان ټولنې د متنفذينو او سياستوالو په توگه له ځيني نورو هغو سره او هغوى به د خپل ځان په استازيتوب له طالبـانو سره د هېواد، هېواد والو، هېوادنيو چـارو او د هغـو د راتلـونکې په څرنگوالي خبرې کوي.

طالبان به هم ښايي په همدې مانـا بيـا بيـا ټېنگـار لري چې که په تېر کې کوم افغانان هرځومره د پرديو پـه چـوپړ کـې لوبېـدلي اوس د عـامو افغانـانو پـه حيـث لـه طالبانو سره د ځان او خپل هېـواد د راتلـونکې پـه اړه پـه بين الأفغاني ناستو کې ګډون کـولاى شي، خـو د کـوم ډول اداري په استازيتوب يې نه طالبان مني او نـه يـې هـم د بين الافغاني ناستو تالار ته پرېښودلاى شي.

که څه هم په نړدې راتلونکې کې د قطر او المان پـه نوښت د قطر په پلازمېنه دوحه کـې بـين الافغـاني ناسـته راغوښـتله کېـږي او تردېـره يـې تمـه هـم شـته چـې پـه بريالیتوب به ترسره شي، خو د غونډې کوربانه وايي چـې حامد کـرزى او ولسمشر-يزو ټـاکنو تـه نومانـدان د غنـي مخالف سياسـتوال بـه پکـې گـډون نکـوي، د هغـه فکـر سرچپه چې د غني ډله به د تېر په څېر په دې غونډه کې هم ټينگـار وکـړي چـې اړونـد افـراد بـه يـې د هغـې پـه استازيتوب په يادە غونډه کې گډون کوي، د غني سلاکار محمود فضلي ويلي هغوى په يادە ناسته کې پـه انفـرادي ډول گـډون کـوي، خـو دا بـه وروسـته مالومـه شي چـې غونډه به څه ډول ترسره کېږي، اجنډا به يې څه وي او د غني د ډلې انفرادي او شخصي- گـډونوال بـه څـوك غـوره کېږي.

د اسلام غزوات او سرایا

دمکې مکرمې عظیم الشانه فتح

دمهاجرینو د متروکه کورونو د بیرته سپارلو مسئله

□ په تیر پسې

□ ابوظهیر

دمکـــې کـــافرانو دمهاجرینوکورونـــه ،دهغـــوی جایدادونه او املاک قبضه کړي وو، کله چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مکـې فـتح پـه ورځ لـه خطبـې فـارغ شـو ،دکعبې مبـارکې دوازه کـې لا ولاړو، چـې لـه ښـکته مجمع څخه ابو احمدبن جحش په نوم یو مهاجرصـحابي پورته شو او دخپل هغه کـور ورسـپارلو پـه اړه یـې عـرض وکـړ، چـې ابوسـفیان دنومـوړي دهجـرت وروسـته پـه څلورسوه دینـارپلورلی و، رسـول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغـه ځان ته نژدې وغوښته اوپه وروبې ور ته څه وفرمایل:چې په اوریدو یې ابو احمـدبن جحـش چـوپ شـو؛ وروسـته خلکو له ابو احمد بن جحش نه وپوښتل تاتـه رسـول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څه وویل؟ ابو احمد په ځواب کې وویل:

رسـول اللـه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماتـه وفرمایل:کـه صـبر وکړې دابه ستا لپاره غوره وي او ددې عوض کې بـه تاتـه په جنت کې کور درکړل شي ماعرض وکړ زه صبرکوم.

پر هغه علاوه نورومهاجرینو صحابه ووهـم غوښـتل چې هغـوی تـه خپـل کورونـه وسـپارل شي رسـول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغوی ته وفرمایل:

ستاسوکوم مالونه چې دالله تعالی په لارکې لاړدي، تاسوته بیرته دهغوسپارل زه نه خوښوم!

ددې په اوریدو ټول مهاجرین چوپ شول او کـوم کورونه اومالونه چې هغوی دالله تعـالی اودهغـه درسـول صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لپاره پریښودي وود هغـو دبیرتـه ورسـپارلو غوښتنه یې ونکړه اوپـه کـوم کـور کـې چـې رسـول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پخپله پیداشوی و اوپه کـوم کـورکې چـې دحضرـــت خدیجـــه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا سره یـــې واده کـــړی ی و ،رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغـه هـم یـاد نکـړ (الصـارم المسلول:۱۵۴مخ)

له عامه عفوې وروسته دخاصومجرمينو په اړه احکام:

دمکې دفتح په ورځ رسول الله ﷺ عمومي عفوه اعلان کړه، چاچې درسول الله ﷺ په لارکې ازغي غورځولي وو، یاچاپه تیروویشتلی وواوکوم کسان همیش درسول الله ﷺ پخلاف جنګیدلي وو اوچا درسول الله ص ښنګري مبارک په وینوسره کړي وو هغوی ټول یې وښل لیکن دځوتنو هغوپه اړه چې نهائي درجه ګستاخان اوبدزبي وو حکم یې وکړچې:هرځای په لاس درځي هغوی قتلوئ ، ددغسې خلکوپه اړه دالله تعالی حکم دی:

مَّلْعُونِينَ أَيْنَمَا ثُقِفُوٓاْ أُخِذُواْ وَقُتِّلُواْ تَقْتِيلاً سُنَّةَ اللَّهِ فِي الَّذِينَ خَلَوْاْ مِن قَبْلُ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ اللَّهِ تَبْدِيلاً

ژ: دامعلونین چې هرځای لاس درځي، نیسی یې،وژنی یې ځنګه چې دپخواینومفسدینوپه باره کې دالله تعالی سنت دی او دالله تعالی په قانون اوعادت کې هیڅ تغیراوبدلون نه مندل کیږي.

زکه چې دالله تعالی دپیغمبر ﷺ عزت، توقیر او تعظیم ، دهغه حمایت اومرسته په ټول امت باندې فرض ده او دهغه سپکاوی دالله تعالی ددین سپکاوی دی (العیاذبالله)

دقاضي عیاض په شفاء کې دي:چې کله هارون رشید دامام مالک رَحِمَهُ ٱللَّهُ نه درسول الله ﷺ په شان کې دګستاخي کونکي دحکم په اړه پوښتنه وکړه نوهغه رَحِمَهُ ٱللَّهُ وفرمایل:

مابقاءُ الأُمةِ بعدَ شتمِ نَبِيها

ژ: دهغه امت به څه ژوند وې چې پیغمبرته یې کنځل کیږي.

حافظ ابن تیمیه رَحِمَهُ ٱللَّهُ په زمانه کې یو نصراني درسول الله ص پشان کې ګستاخې وکړه نوموصوف په ٦سوه مخونوکې یوضخیم کتاب ولیکه او نوم یې ورته [الصارم المسلول علی شاتم الرسول] کیښود، په کوم چې موصوف په قرآني ایتونو، نبوي احادیثو، دصحابه وو او تابعینوپه اجماع، او دراشدینو خلفاوو په تعامل اوپه عقلي دلایلوسره شاتم الرسول واجب القتل ثابت کړی دی.

نوکومو خلکوپه اړه چې دمکې دفتح په ورځ دا حکم وشو چې هغوی هرځای ومندل شول هلته دي ووژل شي ټول پنځلس یا شپاړس کسان وو، تفصیل یې لاندې راځي:

لومړی: عبدالله بن خطل:

دا اول مسلمان شوی و، رسول الله ﷺ عامل مقرر کړ دصدقاتو راټولولو لپاره یې واستاوه، ورسره یو غلام او انصاري مسلمان هم ملګري وو، کله چې یوپراو سفریې طی کړ، ابن خطل غلام ته دخوړو تیارولو حکم وکړ، غلام ته خوب ورغلی و خواړه یې نه ووتیارکړي، کله چې بن خطل بیدار شو او وې لیدل چې غلام خواړه ندي تیار کړي په غوسه شو او پورته شو غلام یې قتل کړ ، ددې وروسته ورسره ډارپیداشو چې رسول الله ﷺ به خامخا ما قصاص کوي نومرتد شو او مکې ته وتښتید، دمشرکانو سره یوځای او هم دصدقاتو اوښان یې ځان سره بوتلل، هلته به یې

درسول الله ﷺ په هجوکې شعرونه جوړول اوبيا به يې په وينځو سندريز کول نو دابن خطل جرمونه درې وو:

۱ – ناحقه قتل ۲ – مرتدکيدل ۳ – درسول الله ص په هجوکې اشعار ويل

ابن خطل دمکې دفتح په ورځ ځان دکعبې په غلاف کې پټ کړی و، رسول الله ﷺ ته خبرورغی چې :

ابن خطل دبيت الله په غلاف کې ځان پټ کړی دی

رسول الله ﷺ وفرمايل: هم هلته يې قتل کړئ

په دې سره ابو برزه اسلمي او سعد بن حريث ورغلل او هلته يې قتل کړ،دحجراسود اومقام ابراهيم ترمنځ يې سر ترې قلم کړ(الصارم المسلول ٦٣٣مخ، زرقاني ۲توک ۳۱۴مخ)

دوهم - دريم فرتنی اوقرَيبَه

دا دواړه دابن خطل وينځې وې، دواړو به شپه ورځ درسول الله ﷺ په هجو کې اشعار ويل، سندرې به يې ويلي، يوه ووژل شوه اوبلې دامن غوښتنه وکړه هغې ته امان ورکړای شو او حاضره شوه مسلمانه شوه (الصارم المسلول ١٢٦مخ)

څلورم: ساره

دا په بني المطلب کې دچا وينځه وه، دې هم درسول الله ص په هجو کې اشعارويل ،ځيني روايان وايي ووژل شوه اوځيني بيا وايي: اسلام يې راړو اودحضرت عمر رض دخلافت زمانې پورې ژوندی وه او دا هم هغه ميرمن ده چې دحاطب بن بلتعه خط يې ځان سره مکي ته وړو. او رسول الله ﷺ دوحي په زريعه خبروشو...

پنځم :حُويرث بن نقيد:

دا شاعرو او درسول الله ﷺ په هجو کې به ده هم شعرونه ويل،دمکې دفتح په ورځ يې وينه هدر اعلان شوه اوعلي رض قتل کړ (زرقاني ۲توک ۳۱۵مخ)

شپږم مِقيس بن صبابه:

دا اول مسلمان شوی و، په ذی قُردغزوه کې يو انصاري دهغه په ورور(هشام) ددښمن گومان وکړ او په خطاء سره يې قتل کړ ، رسول الله ص هغه ته ددیت ورکولو حکم وکړ،مقيس ددیت اخستو وروسته هغه انصاري قتل کړ اومرتد شو مکي ته وتښتيد، دمکي دفتح په ورځ رسول الله ﷺ دهغه وينه هم هدراعلان کړه نميلة بن عبد الله ليثي ورغی او قتل يې کړ(فتح الباري ۸توک ۹مخ)

اووم عبد الله بن سعد بن ابی سرح:

دا هم اول مسلمان شوی و او درسول الله ﷺ دوحي ليکلو کاتب و، دعثمان رض رضاعي رورو،دمکې دفتح په ورځ پټ و، اخر دعثمان رض سره يوځای يې ځان درسول الله ﷺ په خدمت کې حاضرکړ،رسول الله ص له خلکونه بيعت اخيسته او عثمان رض عرض وکړ:

يارسول الله!، عبدالله حاضردی، له ده هم بيعت واخلئ،

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ترڅه وخته سکوت وکړ ،بيا عثمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څو واره غوښتنه تکرار کړه، رسول الله ص له ابن ابی سرح نه بيعت واخيست او اسلام يې قبول کړ په دې توګه نوموړی وښل شو

وروسته صحابه ووته يې وفرمايل: په تاسو کې يوهم پوهيدونکی تن نه و چې کله ما ورسره دبيعت نه لاس ونيو بايد يوتن پورته شوی وای او هغه يې وژلی وای ، چا عرض وکړ چې دالله رسوله ! هغه وخت به دې مورِ ته اشاره کړې وه! رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل : له پيغمبر سره اشاره بازې خوند نکړې

داځل عبد الله بن ابي سرح په نهايتي رښتولی سره اسلام قبول کړ او بيا ورڅخه هيڅ کومه خبره ښکاره نشوه، دحضرت عمر اوحضرت عثمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا په زمانه کې دمصر والي و، او دحضرت عثمان رض په زمانه کې (دخلافت په ۲۷- يا ۲۸) کال افريقا هم دنوموړي په مشری فتح شوه چې کله يې غنيمت مال وويشه نو ديو، يوسړي په برخه درې درې زره دينارورسيدل ، دحضرت عثمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دشهادت وروسته دفتنو څخه يې ځان جلاکړ، او نه يې دحضرت علي رض په لاس بيعت وکړ اونه دحضرت معاويه ، دحضرت معاويه په روستی زمانه کې عسقلان کې وفات شو ، او دوفات يې هم عجيبه واقعه ده يوه ورځ سهارپورته شو او دا دعاءيې وکړه

اللهم اجعل آخرعملی الصُبحُ

ژ: اې الله زما وروستی عمل دي دسهاروخت وي

اودس يې وکړ ،لمونځ يې وکړ ،بيې اړخ ته يې سلام وګرځاوه کين اړخ تـه يـې سـلام ګرځـاوه چې روح يـې پروازوکړ انا لله وانا اليه راجعون رضی الله عنه وارضاه (الاصابه ۲ټوک۳۱۶مخ)

اتم عكرمة بن ابي جهل:

دا هم دهغوخلکوڅخه و چې وينه يې دمکې دفتح په ورځ مباح ګرځول شوې وه، عکرمه دابوجهل ځوی و ،دپلارپشان هغه هم درسول الله ص دسرسختو دښمنانوڅخه و، دمکې دفتح وروسته وتښتيد او يمن ته لاړ، دعکرمه ميرمنې اُم حکيم بنت حارث بن هشام اسلام راوړو او رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته هغه راغله دخپل ميړه لپاره يې دامن غوښتنه وکړه، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دعکرمه بن ابي جهل لپاره دهغې غوښتنه اومنله اوهغه ته يې امن ورکړ

عکرمه ديمن ساحل کې کښتی ته ختلی و، خوکښتی تيزو هواګانو تم کړې وه ، عکرمه دغه مهال لات و عزاته دمرستې لپاره چغې وهلې، دکښتی نورو سپروکسانو ويل: دلات وعزا نه دهيڅ کارتمه نشي- يواځې يوخدای ته چيغې کړئ

عکرمه وويل:

په خدای سوګند کوم ځيز چې دخدای ج پرته دسمندرپه اوبو کې په کار رانشي نوپوی شه چې هغه په وچه کې هم دخدای ج پرته په کارنه راځي

په زړه کې يې کلکه وعده وکړه الله! زه تاسره عهد کوم که تا له دې پريشانی ماته نجات راکړ، خامخابه زه دمحمد ص په لاس کې خپل لاس ږدم او يقيناً به هغه لوی بښونکی اومهرباني کونکی ومومم

په دې وخت کې دعکرمه ميرمن اُم حکيم هلته ورسيده او عکرمه ته يې وويل:

اې دتره ځويه! زه ديوډير نيک، اوترټولو زيات صله رحمي کونکي او ترټولو غوره شخص ځخه راغلې يم، ته خپل ځان په هلاکت کې مه اچوه ما درسول الله صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ نه تا لپاره امان ترلاسه کړی دی.

ددې په اوريدو عکرمه دأم حکيم سره يوځای روان شو ،په لارکې يې غوښتل خپلې ميرمنې سره مباشرت وکړي خوهغې (اُم حکيم) ورته وويل: اوس خو ته کافريې اوزه مسلمانه يم! عکرمه وويل: ښکاري ته کوم لوی ځيز منع کړې يې!

دايې وويل اومکې ته روان شول رسول الله صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ صحابه ووته وفرمايل: يَاتيکم عکرمةُ مؤمناً فَلاتَسبُوا اباه، فَاِن سبَّ الَميت يؤذِی الحیّ

ژ: عکرمه مومن رادرومي تاسو دهغه پلارته بد مه وياست زکه چې مړوته په بدو ويلو سره ژوندیوته تکليف رسي.

عکرمه رسول الله صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ ته راغی او په مخ کې يې ودريد، ميرمن يې ورسره وه هغې پرده کړې وه او عرض يې وکړ: دا زما ميرمن ده ، دې ماته خبرراکړ چې تا ماته امان راکړی دی

رسول الله صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ وفرمايل: هو! دې تاته ښتيا ويلي تاته امان دی، عکرمه وويل: ته دکوم ځيزلورته بلل کوي رسول الله وفرمايل:

ددې خبرې شهادت وکړه چې الله يودی او دهغه نه سيوا بل معبود نشته او زه دهغه رسول يم ،لمونځ کوه اوزکات ورکوه

او ددينه علاوه نور څه احکام يې هم ورته تلقين کړل عکرمه وويل:

بيشکه ته دغوره اوخيرپه لوربلل کوي او يارسول الله ددې حق لورته دعوت نه وړاندې هم ته زمونږ ټولو نه ښتونی اونيکې کونکی وي

ددې وروسته يې وويل: اشهد ان لا اله الا الله وان محمدا عبده ورسوله.

بيا عکرمه وويل: زه الله تعالی او تاسوټول شاهدان گرځوم چې زه مسلمان، مجاهد او مهاجريم (زرقاني ۲ټوک ۳۱۴مخ)

عکرمه عرض وکړ يا رسول الله ص ماته ښښنه وغواړه ،رسول الله صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ ورته دمغفرت دعاء وکړه عکرمه وويل:

دالله رسوله! سوګند په الله! کوم څه چې ما دالله ددين په مخنيوي کې خرچ کړي اوس به دخدای په لاره کې دهغه دوه چنده خرچ کوم اوخومره قتال چې ما دخدای او دهغه درسول پخلاف کړی دهغه نه څوچنده زيات به دالله تعالی په لارکې کوم اوپه کوم کوم ځای کې مې چې دالله تعالی ددين څخه خلک ګرځولي هلته به ځم خلک به دالله دين ته رابلم

دحضرت ابوبکرصديق رَضِيَٱللَّهُعَنْهُ په زمانه کې چې کله دمرتدينو دمقابلې لپاره لښکر روان شو نو دهغه لښکر مشر عکرمه وه، نوغرض داچې پاتې عمر يې د خدای او د هغه درسول صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ د دښمنانو سره په جهادو قتال کړ تيرکړ او دحضرت ابوبکر صديق رَضِيَٱللَّهُعَنْهُ په خلافت کې اجنادين جنګ کې شهيد شو، په جسم يې دغشو او تورو له اوياوو نه زيات ټپونه وو (الاستيعاب لابن عبدالبر ۳ټوک ۱۴۸مخ) نوربيا...

جنګي جنايتونه

(جون)

سید سعید

د ۲۰۱۹ز، کال د جون دمیاشتې په لومړۍ نیټه دهلمند ولایت دکجکي ولسوالۍ د ګندم ریز په سیمه کې دیرغلګرو په ډرون برید کې څلور تنه ملکي وګړي شهیدان شوي دي.

د جون په ۹مه د پکتیا ولایت دزرمت ولسوالۍ په سنګي خیلو سیمه کې حکومتي عسکرو چاپه وهلې،د کورونو او جوماتونو دروازې یې په بمونو الوزولې، د ښوونځي د شاګردانو په ګډون یې درې کلیوال او یو د لېسې ساتونکی شهیدان کړي دي.

د جون په ۱۰مه دهلمند ولایت دموسی کلا ولسوالۍ د خوجداد په سیمه کې د یرغلګرو په ډرون حمله کې دوه ماشومان شهیدان او پلار یې ټپي شوی دی.

د جون په ۱۰مه دهلمند ولایت دګرشک ولسوالۍ دمیرمندآب په سیمه کې یرغلګرو په یو مسجد باندې ډرون حمله کړې،په دې حمله کې مسجد ویجاړ شوی، پنځه تنه لمونځ کونکي پکې شهیدان او دوه نفره ټپیان شوي دي.

د جون په ۱۳مه د فراه ولایت د بالابلوک ولسوالۍ په شیوان سیمه کې یرغلګرو او داخلي عسکرو د۳۰۳ موټریو ه نمایندګي بمبارکړې چې له امله یې اووه تنه مسافرین (عبدالله د سرور اکا زوی ، میراجان د شهزاده اکازوی ، بورجان اکا، حبیب الله د مولاداد اکا زوی ، امان الله ا ومحمد نعیم د رحمدل اکا زامن ، خیرالله د مولاداد زوی) شهیدان شوي او دوه تنه ټپیان شوي دي. همداراز ګډو ځواکونو له سیمې څخه د یو ملاامام په ګدون درې تنه ولسي- وګړي دبندیانو په توګه له ځان سره یووړل، خو دوې ورځې وروسته د نومورو اسیرانو جسدونه په داسي

حال کې ومونډل شول چې دشکنجو نښې ورباندې ښکاره وې.

د جون په ۱۴مه د لوګر ولایت دمحمدآغې ولسوالۍ د دهنو سیمه کې ګډو ځواکونو دچاپې په مهال څلور تنه ملکي وګړي شهیدان ا وژوبل کړي او خلکو ته یې پراخ مالي تاوانونه رسولي دي.

د جون په ۱۴مه د زابل ولایت دمیزاني ولسوالۍ د پوټي کلي کې یرغلګرو او داخلي عسکرو دچاپې په مهال لس تنه ملکي هیوادوال شهیدان کړي، په شهیدانو کې یو تن دخاک افغان ولسوالۍ او سیدونکی و او نور دهمدې سیمې او سیدونکي وو ،چې په خپلو کروندو کې به په کښت مشغول وو.

د جون په ۱۴مه د غزني د خواجه عمري ولسوالۍ په دیدارات سیمه کې دحکومتي عسکرو دهاوان په ډزو کې دوه تنه ملکي وګړي(دل اغا او عبدالقهار) شهیدان شوي دي.

د جون په ۱۴مه د زابل ولایت دشاجوی ولسوالۍ د موسی زو په دارل کلي کې دیرغلګرو په ډرون حمله کې پنځه تنه ولسي-هیوادوال شهیدان شوي دي.

دجون په ۱۴مه د غزني ولایت دشلګر ولسوالۍ په سردې کلي کې اشغالګرو دملکي خلکو پر کرولا موټر ډرون برید کړی،په دغه برید کې څلور تنه ملکي وګړي(جمال، ولي محمد، سیدخان او محمد یوسف) شهیدان شوي دي.

د جون په ۱۵مه د غزني ولایت دشلګر ولسوالۍ په خو شحال سیمه کې دیرغلګرو په ډرون برید کې دوه تنه ولسي وګړي شهیدان شوي دي.

د جون په ۱۵مخه د غزني ولایت دشلګر ولسوالۍ په ملا ګلان اوجوی دو سیمو کې اشغالګرو په ډرون حمله کې اووه تنه ملکي هیوادوال شهیدان کړي دي.

د جون په ۱۵مه د پکتیکا ولایت د برمل ولسوالۍ مرغې بازار ته نژدې سیمه کې دیرغلګرو په ډرون برید کې دوه تنه ملکي وګړي چې پر مو ټر سایکل سپاره وو، شهیدان شوي دي.

د جون په ۱۵مه د هلمند ولایت دسنګین ولسوالۍ د سره بند په سیمه کې د یرغلګرو په ډرون برید کې پنځه تنه ملکي هیوادوال (نعمت الله ، محمدقاسم ، کولالا،حمیدالله او جمعه ګل) شهیدان شوي دي.

د جون په ۱۵مه د غزني ولایت دشلګرولسوالۍ په خارخشه سیمه کې داشغالګرو په ډرون حمله کې درې تنه عام خلګ شهیدان شوي دي، درې واړه شهیدان د حبیب ګوډلو اوسیدونکي وو.

د جون په ۱۶مه دبادغیس ولایت د مرغاب ولسوالۍ د ښامیریانو په سیمه کې دحکومتي عسکرو دهاوان په ډزو کې یو سړی او دوه ماشومان شهیدان او د یوې میرمنې په ګډون یو شمېر نور ماشومان ژوبل شوي دي.

دجون په ۱۶مه دفاریاب ولایت د جمعه بازار ولسوالۍ په مربوطاتو کې دګډو ځواکونو په عملیاتو کې ځلور تنه ملکي وګړي شهیدان او دوه ویشت تنه ټپیان شوي دي.همداراز په دې عملیاتو کې دخلکو کورونو او مالونو ته هم لوی زیان اوښتی دی.

د جون په ۱۶مه د فاریاب ولایت دګرزیوان ولسوالۍ د یوخن په سیمه کې دحکومتي قواوو په بمبار کې دوه ماشومان شهیدان او ځلور میرمنې ټپیانې شوې دي.

د جون په ۱۶مه دهرات ولایت د پشتون زرغون ولسوالۍ له سیاګرد څخه تر ګذرې پوري لاره کې اربکیانو پنځه تنه ولسي وګړي شهیدان کړي، په دغه سیمه کې له یوې ا ونۍ راهیسې داربکیانو له خوا دوولس تنه ولسي-هیوادوال شهیدان شوي او پنځه دیرش کورنۍ له سیمې څخه ګډې کولو ته مجبورې شوې دي.

د جون په ۲۰مه دفراه ولایت د بالابلوک ولسوالۍ دګراني په سیمه کې د یرغلګرو په ډرون حمله کې یو کور ویجاړ او درې تنه ولسي وګړي چې سره ورونه وو، شهیدان شوي دي.

د جون په ۱۶مه د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ په مقرب خیلو سیمه کې حکومتي قواوو دولسي وګړو دسپرلۍ یو موټر په نښه کړی، په موټر کې ځلور تنه نارینه او دوې میرمنې شهیدان شوي دي.

د جون په ۱۷مه د غور ولایت د فیروزکوه په امروتک سیمه کې دحکومتي ځواکونو په بمبا رکې ځلور تنه ملکي وګړي شهیدان او ټپیان شوي او خلکو ته مالي تاوان هم او ښتی دی.

د جون په ۱۸مه د پکتیکا ولایت د یحی خیل ولسوالۍ د ګلوالو په کلي کې دحکومتي عسکرو په ډزو کې دوې ماشومې نجونې شهیدانې شوې دي.

د جون په ۱۹مه د نیمروز ولایت د دلارام ولسوالۍ د خاګي په سیمه کې ګډو ځواکونو د ډاکټرخان اغا پرکلي چاپه وهلې،له کورونو یې قیمتي شیان وړي او د ډاکټر خان اغا په ګډون یې ځلور تنه ملکي هیوادوال دبندیانو په توګه له ځان سره وړي دي.

د جون په ۱۹مه دفراه ولایت د بالابلوک ولسوالۍ د نصرالله کلا په سیمه کې حکومتي ځواکونو چاپه وهلې، دوه ملکي وګړي یې شهیدان کړي، له کورنو یې قیمتي توکي وړي او دخلکو شپږ عرادې موټر یې سوځولي دي.

د جون په ۱۹مه د زابل ولایت دشهرصفا ولسوالۍ د مریم مانده په سیمه کې ګډو ځواکونو دچاپې په مهال یو ۸۰ کلن سپین ږیری(زمان شاه اکا) شهیدکړی، کوټه او دوکان یې ورنړولي دي.

د جون په ۲۰مه د فاریاب ولایت د ګرزیوان ولسوالۍ د بهارک په سیمه کې یرغلګرو او داخلي عسکرو دچاپې په مهال په سیمه کې دعبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه په نوم مدرسه سوځولې او خلکو ته یې مالي زیانونه رسولي دي.

د جون په ۲۴مه دهلمند ولایت دسنګین ولسوالۍ د څاروان قلعه د بارګزو په سیمه کې

ديرغلګرو په بمبار کې څلور تنه ملکي وګړي شهيدان او ټپيان شوي دي.

د جون په ۲۸مه د فارياب ولايت د پشتونکوټ ولسوالۍ د خشت پل او چماق په سيموکې د ګډو ځواکونو په بمبار کې ګڼ کورونه زيانمن شوي او يو ملکي سړی شهيد شوی دی.

د جون په ۲۹مه يرغلګرو او داخلي عسکرو د ميدان وردګو ولايت دچک ولسوالۍ د نيک پايکول درې په چهلګزيانو کې په يوه ديني مدرسه چاپه وهلې، دمدرسې اووه تنه تنکي زده کونکي يې شهيدان کړي، دمدرسې ودانۍ يې تخريب کړې، او څلور تنه ولسي وګړي يې بنديان کړي دي.

د جون په ۳۰مه د کندز ولايت دامام صاحب ولسوالي قرغان تيپې سيمې ته څېرمه د داخلي عسکرو د هاوان په برید کې اته تنه ولسي-وګړي شهيدان او ټپيان شوي دي.

د جون په ۳۰مه دفارياب ولايت د شيرين تګاب ولسوالۍ د رحمت اباد په سيمه کې ګډو ځواکونو د ملکي خلکو پر کورونو چاپه وهلې،درې تنه ملکي وګړي يې شهيدان او ژوبل کړي او خلکو ته يې مالي زيانونه هم اړولي دي.

د جون په ۳۰مه ګډو ځواکونو د زابل ولايت د شهر صفا ولسوالۍ د لغړي پرکلي چاپه وهلې، د ملکي خلکو ګڼ نقليه وسايط او ديرش شمسيانې يې له منځه وړي او د يوې ماشومې په شمول يې څلور تنه شهيدان او زخميان کړي دي.

مأخذونه: [بي بي سي راډيو،ازادي =، افغان اسلامي اژانس، پژواک = ،خبريال ويبپاڼه ،لراوبر= ،نن تکی اسيا=اوبينوا=]

د مورچل وږمې

غزل

فکرمل

نوی تاریخ نوې نړۍ ته ښایو
دایمان زور ټیکنالوژۍ ته ښایو

پخپلو غوښو معرکه ګرموو
دسینې قبر یې مرمۍ ته ښایو

مونږه پرون کیسې زده کړي د نن
شهادتونه زندګۍ ته ښایو

ښه ده چه دوی په دې راز نه دي خبر
دا راز زندان او هتکړۍ ته ښایو

لوږې او تندې پخپل ځان قبلوؤ
دژوند اصول خپلې ځوانۍ ته ښایو

حورې غِلمان او جنت نه خبروو
پرهر وجود دخدای خدایۍ ته ښایو

مونږه د وخت داسې ریښتونی مئین
دعشق آسلوب وه قربانۍ ته ښایو

خلک یې ولو فکرمله په سر
افغانستان سپینې ماڼۍ ته ښایو

محراب ړنګ شو

او منبر دی وینې وینې

مسرور درمل

د غلام او د بادار وحشي بمبار کې
محراب ړنګ شو او منبر دی وینې وینې
کتابونه او قرآن شول پاڼې پاڼې
چنار ژاړي او ګودر دی وینې وینې
درنه غواړو به حساب چې طالب راشي
دا سلګۍ او دا آهونه هسې ندي
ستا بچي به غرقوي توندو څپو کې
د سرو وینو سېلابونه هسې ندي
د معصومو او تنکیو ماشومانو
سپارې درته ښېرې کوي غلامه!
په دنیا به په عذاب کې مبتلا شې
مدرسې درته ښېرې کوي غلامه!
د ګلاب په پاڼو ښخ ظالم خنجر شو
هره تیږه د طالب په وینو سره ده
پرهرونه، ژړاګانې او دردونه
دا زما د مسلمان وطن کیسه ده
د ډالرو په نشه مسته لیکواله
مسلمان یې إسلامیت ته لږ پام وکړه!
په دې سترو وحشتونو ولې چوپ یې
در له غاړې مسئولیت ته لږ پام وکړه
د درمل د قلم اوښکې درته توی شوې
په کاغذ یې دا زخمي داستان لیکلی
ماشومان مو هم غربیانو دي روزلي
څوک پیشو لیکي چا لوی حیوان لیکلی

د ښکلا میر

زاهدزاده (مهاجر)

د یو چا دزړه تصویر یم
دیوچا د درد اکسیر یم
د یو چا د ژوند اسره یم
د یو چا دژوندون ویر یم
••••
د یو چا دزړه ټکور یم
د یو چا دژوند پیغوریم
دیوچا دهیلو کوریم
دیوچا دزړکي شور یم
دیوچا تانده جذبه یم
دیو چا مړاوي غرور یم
د یو چا معصوم احساس یم
دیو چا سپیڅلی پیر یم
••••
دیو چا شهید ارمان یم
دیوچاشهید جانان یم
دیوچاشهید ورور کی یم
دیوچاشهیدپلارجان یم
دیوچا ورانه مانې یم
دیوچا مخمور وجدان یم

دیوچادروح کالبوت یم
دیو چا دښکلا میر یم
••••
دیوچایم پور وړی
په یوچاباندي سرلوړی
دیوچاسره سیالي کړم
دیو چانه مي ورخ وړی
دیو چا د ژوندقاتل یم
دیو چا وینو ته مړی
دیو چا مخلص مریدیم
دیوچاپه دام کي کیریم
••••
دیوچا د ژوندون رازیم
دیوچا دزړه اوازیم
دیوچادیدن ته تړی
دیوچاداوربل بازیم
دیوچاپه دعا پایم
دیوچاپت اواعزازیم
دیوچادقدم خاوره
دیوچادژوندمسیریم

••••
دیوچاسره په جنک یم
دیوچا د درملنک یم
دیوچا په وینو رنک یم
دیوچاسره په څنک یم
دیوچامسته نغمه یم
دیوچا دعشق اهنک یم
دیوچاپه خوښی خوښ یم
دیوچاپه غم زهیر یم
••••
دیوچا نه مرور یم
دیوچا دسر خطریم
دیوچا خوړ برادر یم
دیوچاعظیم رهبریم
دیوچادقدم خاوره
دیوچانه مهاجریم
دیوچا زاهدزاده یم
دیو چا هڅاندضمیر یم
••••

۲۰۱۹ زکال

د جـون د میاشتې جهادي خبرونه



امریکایي یرغلګرو او داخلي ځواکونو د میدان وردګو د چک ولسوالۍ یوه دیني مدرسه چې دچهل ګزیانو په نوم یادېدله، ویجاړه او ۷ تنه زده کوونکي حافظان او یو استاد په شهادت رسولی.



په کابل کې د دفاع وزارت د لوجیستک ریاست ودانۍ د طالبانو له برید وروسته

MORCHAL

Islamic, Jihady, Educational
and Cultural Monthly Journal

شایسته افغانستان